# ساندې

# او

# سندرې

پوهاند دوکتور مجاور احمد زيار

www.samsoor.com

## یادښت :

تر هرڅه له مخه باید څرګنده کړو چې استاد پوهاند زیار د ازاد او سپین) شعر د غورځنګ د ټولمنلي بنسټوال په توګه د غزل لمن هم نه ده خوشي کړې، لا زیاته پراختیايي هم پکې را وستې او مسرې یې له دوه څپېزو څخه تر اته ویشت څپېزو پورې ور غځولې دي. په دې لړ کې یې له اوولسو چاپي ټولګو څخه پښځه دا غزلیزې دي او که تر ازاد کالبه یې هم ورسوي، بیا به هم دا هوډ راغبرګوي:

تته مه شه بله شمه د غزل مې،

د وختو د اسوېلو تر سیورې لاندې!

له دې هرڅه سره سره دا منښته هم کوي چې دغه قافیوال ژانر یې د شعریت له پلوه، تر ازاد او سپین هغه وروسته په دربیمه پوړۍ کې راځي. په خپله وینا یې، په دې لیکه شوې ټولګه کې یې څو غزلیزې بېلګې(سلېماني ګوته، ژړغونې سترګې...) له خورا تنګو پښپلو(قافیو) سره یوازې او یوازې په دې موخه راوړې،هغه غزلبو ل پر دې و ګروهوي چې پښتو ژبه له دغه پلوه دومره ارته او بیرته ځولۍ لري اوکه وغواړي، شعر و غزل په ټوله مانا((پښتنی))کړي، کولای شي، خپله پانګه د پردۍ هغې ځایناستې کاندې او په دې توګه یې تر ډېرې کچې وزن او بیا قافیه راپورونې ته اړ نه باسي!

خو ، لکه ارواښاد ننګیال یې چې د ((سبرونو نڅا)) په کره کتنه کې څرګنده کړې، د استاد پېیلي او ناپېیلي دواړه ډوله ویناوې د دوه ګونو منل شویو ټولیو (مقولو)، په بله وینا ، له (( ژب- ښکلاییز)) او ((ژب- اندیز)) پلوه د یوې ځانګړې لارې رودې یا سبک ښکارندویي کوي. په دغه تړاو یې بیا د یوې پښتو- کره پښتو او ورسره ورسره ، تر ډېره ځایه دنړه وییپانګې کارونګ یوه بېساری ځانګړتیا بلل کېږي او له نورو ویناوالو سره یې یوه جوته او نومېرلې برید لیکه راکاږي.

سمسور اوبپانه داخپله نېکمرغي او ویاړ بولي چې د نورو زېړندوییزو او څېړنیزو اثارو په لړکې د استاد (د ۱۳۷۹ ل.کال) دغه غزلیزه ټولګه له نوي کمپوز سره د نوي پښتو غزل د مینه والو مخې ته ږدي.

په ټول شاعرانه مینه-د سمسوراوبپانې پازوال

((زیار که څه هم د شینوارو په حصارک کې پیدا شوی، خوله کوچینوالي څخه، نه حصارېدونکی طبیعت لري، ځکه یې زیار ځان ته تخلص ټاکلی دی، چې د ده د تلاش، سعی ، فعالیت او تجسس ښکارندوی دی... استاد بینوا ))

## د استاد زیار د ساندو او سندرو

### د خوند په تنده

ماته د خپل ویاړلي او لوراند استاد پوهاند دوکتور زیار کره وره ( شخصیت ) او هنر دواړه مخې ته پراته دي، پر یوه مهال د دواړو ځیرنه او ځلونه راته د شهید سیلاب ساپي دا وینا را یادوي چې:

مخ دې بلې لمبې کاندي، خوله دې ګل شي بیا غونچه شي

ځکه ما ته ډېرې ګرانې د پتنګ بلبل نخرې دي.

پر کړو وړو باندې خو یې متې پر همدوره لیکنه بسیاکیږم چې پوهاند زیار چې چا لیدلی او پېژندلی نه وي او یوازې له لیکنو او د کره لیکنې پښتو غورځنګ د یوه لوغړن او لېونې سپیلنې په تو ګه یې اوریدلی یا لوستی وي،نو داسې ګڼې چې استاد زیار به ګڼې په ټولنیزه ناسته ولاړه او راشه درشه کې هم همدومره ترنځ و ترینګلی وي، لکه په لیکنو او پنځونو ( تخلیقاتو ) کې چې دی ،خو که څوک یې زما په څېر د ناستې ولاړې، شا ګردۍ او ملګرتیا ویاړ ترلاسه کړي ، نو دا منښته( اعتراف ) به هرو مرو کوي،چې استاد د یوې ډېرې ساده او زړه ته لوېدلې لوښې ( خصلت ) څښتن دی، لویې ستر چارې او ځان لوړ ګڼنه یې په ختېه کې هډو راوړې نه ده .

لور او پېرزو بینه یې هغه ځانګړنې دي چې هر خپل پردی یې له چینې یو شان خړوبېږي، د پوهنیزو ربړو ( مسایلو ) په شاربنه کې یې پر چا په سرزورۍ د خپلې خبرې د منلو توکې او تومنه په وینه کې نشته او په استدلال کې د چا خبره د ... ښه نه ټینګوي، د نیو کې زغم

يې دومره دی چې پر ځان باندې له ډېر کشر نه هم د نظر څرګندونې حق نه تروړي په ملګرتیا او دوستۍ کې دومره بې جوړې دی، چې هر څوک یې خپل همزولی ګڼلای شي، له پاړکېزو ناخوالو سره د جنګ جګړې تومنه یې له خپلې ښوونې او د خپلې رنځورې او رنځېدلې ټولنې له ښېرخۍ اخيستې ده، که څه هم په کړنيزې ( عملي ) جوارۍ کې د خپلې پاکزړۍ له لامله پاتې راغی، خو د هماغه واک په فضا کې یې هم د مينې او لورېينې لمن نه ده پرېښې، او د ده د خپلې وينا په لاسوندۍ ( استناد ) يې سياست هم د ملي ژبې او فرهنګ د پالنې او دودونې لپاره کړی دی. ځکه خو واکمنو سياسي ناخوالو او نادودو له خپل او ډلې او پرله غښتي ( منسجم ) غورځنګ وانه ړوه. هو، همدا د ده د پاکزړۍ او سپېڅلتيا ګناه ده، چې خپلو سياسي همڅنګو په نيما يې لار کې پر ښود، خو دی يې بيا هم د خپلې ژبې له پوهنيز بهير او پر مخيون سره د لېونۍ مينې له نيلي راکوزنه کړای شو.

پاتې شو، د استاد د انځور دا بل ( هنري ) مخ، په دې باب را سره څه خپلې خبرې ښايسته ډېرې دي او څه مې په خپله د استاد له خولې اورېدلي يا را ا يستلې دي.

استاد زيار خپل **۴۵** کلن شاعرانه بهير پر درو ښېلا ښېلو پړاوونو وېشي:

لومړی پړاو هغه دی، چې قافيې به يې لړ کولې او بيا به يې بيتونه ترې جوړول؛

په دويم پړاو کې به يې موضوع او منځپانګه مخې ته ايښووه او پېيلې جامه به يې ور اغوستله

دريم پړاو يې يې بيا تر دې بريده را ورساوه چې له يوې سوژې او نومېرنې ( تشخيص ) سره جوخت د يو لړ وړندو انځورونو، سمبولونو او اسطورو په لټه کې شي او د چا خبره تفکر او تخيل دواړو ته همهال مخه وکړي.

د استاد دا وروستی پړاو له پنځمې او بیا شپږمې لسیزې رانښلي چې د قافیو له پلند یو او بوښتو راوځي.

استاد زیار ګیله من دی او حق یې هم دی، چې د پښتوژبپوهنې او کره لیکنې پښتو د دېرش کلن غورځنګ تر سیوري لاندې د ده زېږندویي او په تېره شاعري ډېرو له پامه غورځولې، له دې ناخبره چې استاد نه یوازې شاعري کړې، چې لاد پورتني ژبني غورځنګ تر څنګ یې د نوي او ازاد ، او ان سپین(او ناپېیلي ) شعر غورځنګ هم پرمخ وړی دی.

استاد د دې اندتوګې ( طرزفکر ) او اند دود له مخې چې جوله (شکل ) او منځپانګه وبله نه جلا کېدونکي اړیکي لري، پښتو ادب په تېره شعر ته د ژبني هنر په سترګه کتلي او له ژبې سره یې یو کروړلی او ترنځېدلی تړاو ورکړی دی او له همدې ګوتپېره یې، ژبه هم د ښکلا ییز اړخ بنسټ ګڼلی او هم له اندیز ( فکري ) پلوه. استاد ګروهمن دی چې همدغه ژبني توکي وییونه یا سېمبولونه دي، چې هم هنري پیلامونه او انځورونه جوړوي او پر ښکلا ییزو توکیو اړول کېږي او هم منځپانګه، پیغام او بلنه را اخلي او په خپله وینا یې، خپل شعر د دغو دوو ښکلاییزو او ژباندیزو آرونو پر کنډه برابر کړی او ورسره یې د ځوان پښت د لارښونې لپاره د کره کتنو، مخامخ خبرو اترو او بیا په کتابي بڼه د(( پښتو شعر څنګه جوړېږي؟ )) په ترخ کې همدا دوه ګوني اړخونه یا آرونه په ګوته کړي دي، ان چې په دې ترخ کې یې شعري کچ میچ هم د پښتو له رغښت سره برابر کړی او له عربي او پارسي هغو یې د نورې ژبنۍ جولې په څېر را جلا کړې اورا خپلواک کړی دی.

پر دې جولیز بدلون او خپلواکۍ سر بېره د استاد زیار په زیار و هاند له اندیز پلوه هم شعري غورځنګ پر له پسې او ښتون او پرمخیون موندلی، له انتقادي ریالېزمه یې ټولنوال ریالېزم ،او له یوې لسیزې راهیسې یې هیومانېزم ته لوړتیا موندلې ده.

پوهاند زيار ته چې څه د خپلو ځوانانو په ځوانه شاعرۍ او نوښتونو کې نيمګړې برېښي، هغه د دوی په شاعرۍ کې د پښتني، اسلامي او نورو نړيوالو اسطورو، نه انځورونه ده چې له دې پرته پښتو شعر د ټوليز نړيوال شعر د سيالۍ جوګه کېدلای نه شي.

استاد زيار د خپلې شاعرۍ، لکه له مخه چې وويل شول، له هر پړاو ياد هر پړاو له شاعرۍ سره د يوه انډوليز چلن له مخې د هرې ټولګې په را اېستو کې يو راز خپرنی (نشراتي) نياوټينګ کړی، داسې چې د ازادو شعرونو ټولګې د نړيوالې سيالۍ، غزليزې ټولګې له خپلو غزلبولو سره د سيالۍ لپاره او دوړو وړو ټوټو، څلوريزو او سپينو شعرونو هغه د ساده لوستونکيو د پوهاوي لپاره کال پر کال يا هر دوه کاله يو ځل رامخې ته کوي.

استاد زيار د سرنيو دريګونو شعري دوترونو په را ايستو سره تر لوی حمزه بابا را وروسته له څومره ييز (کمي) پلوه هم د ريکارډ څښتن دی.

استاد نثرو شعر له خپلو څېرمه ييزو (ذوقي) چارو او بوختياوو څخه ګڼې او ورځنۍ څېړنيزې او روانې او پړنۍ (جسماني) ستومانۍ او اند ښښنې پرې سپکوي، او ژب-ښکلاييز او ژب-انديز يا هنري او ټولنيز او انساني ارمان د استاد شعري موخه او بنسټ دی، چې ځای پر ځای خپل دغې شعري ارمان او موخې ته نغوته کوي.

چې د ارمان ښکلې هېنداره نه شي

مورې هسې لوبې په هنر نه کوو

يا.

د تعميد غسل مې مينې ته د زړه په وينو ورکړ

دا چې کړې مې دوه ارمانه غځونې په غزل کې

استاد زیار په غزل او بیا په ازاد و سپین شعر کې ژب ښکلا ییز اړخ همدومره سمبالوي چې خبره بشپړ فورمالېزم ته و نه رسي او له ریالېزم سره یې ټکر را نه شي، لکه څنګه چې نن سبا دغه راز نړه جولیز واله (فوریالېزم) لړو ډېر دود شوی هم دی. ده د نورو نوښتونو ترڅنګه د شعر تخنیکي اړخ ته هم پر له پسې بدلون ورکړی او په دې لړ کې بې د پخواني دود په توپیر چې د یوې شعري مسرې تېټه کچه تر پنځو او لوړه تر شپاړسو څپو رسي، په مخني غزلغونډ کې ټیټه هغه تر دوه څپیزې رسولې وه او دادی په اوسني دوتر کې یې لوړه تر ۲۴ څپیزې هم ازمایلې ده، هر ګوره په نوي ازاد غونډ کې یې دغه ریکارډ ان تر ۴۸ څپو هم رسولی دی، چې کېدای شي ، ځوان پښت یې له دې پلوه هم پر پله پل واخلي.

زه د استاد د اوروستی-وروستی یې مه کړې، غزلیز غونډ هم د دوی د شاعرانه بشپړتیایي بهیر یوه نوې بېلګه ګڼم او پر دې باور یم چې له پخوانیو هغو څخه هرو مرو نویوالی لري او پر یو لړ نالاسبرو ستونځونو یې د لاسبرې ښکارندوی دی.

نور نو خپلې ستومانوونکي خبرې د استاد زیار لپاره د خوشال بابا د خولې په دعا د دې ارمان په درلودو راغونډوم چې:

خدایه هومره مهلت ورکړې په دنیا کې

چې کاره کارونه سم کاندې خوشال

په مینه او نمانځنه

محمد آصف صمیم ،۱۳۷۹/۱/۱۰

## لويه خدايه

**لويه خدايه**...

پرې، ګلځانی ستا د مينې او ښايست د ګليستان شم

ستا د شان ناپای کتاب ته ، يو وړوکی شان عنوان شم

ياخو ژبه اورنۍ را ، ياقلم هسې پياوړی

چې جوګه دې د ستاينې، زور و ځواک، شوکت و شان شم

يامې تور لکه رانجه کړه، يامې سور لکه نکريزې

مقصد دا ويا هغه خو ،چې منظور د خپل جانان شم

يا په شان د پسرلي يې، کېږدم ګل په تور وربل کې

يا په پښوکې يې د ناز، لکه ګلپاڼې د خزان شم

ماته دومره بری راکړه، چې مې ژوند له څه نه څه شي

يا خو سيوری شم پر ځمکه، يا خو ستوری پر اسمان شم

څوبه ورک يم له خپل ځانه، ناخبره له جهانه

دومره لور و پيرزو وکړه، چې د ځان ياد جهان شم

نه خو درې نه د اوجرې شوم، هسې پاتې په دا منځ کې

که د نورو د ښې نه شوم، نو خپل درد ته خو درمان شم

په تقدير کې دې ښکېللی، څه تدبير هم راته بويه !

نه چې پاتې په دې يو کې، تل تر تله بنديوان شم

دانړۍ منم کافرو ، ته جنت ماته دوزخ دی

خو څه کفر به ونه شي، دلته هم مل د کاروان شم

که څه زيات ادلون بدلون مې ، په برخليک کې نه ځايېږي

خواروه مې دومره هم مه، چې د تېرو په ارمان شم

که راتېر له انتخاب شې، څه به ستا له دربار کم شي

پرېږده پاتې چې تر پايه، هم افغان هم مسلمان شم

چې پر ځمکه ګرځولی، همدا تا خپل خليفه دی

په دې وياړم چې مقبول، درته په نوم د يو انسان شم

يارا اېل سمندرونه ، د مهال په اوبتلو کړه

يا د نوح په شان ماڼو را ، چې خوندي خو له توپان شم

ياخو پوهه مدني را ، چې زه هم فضا تسخير کړم

ياخو ګروهه لدني، چې سپور پر تخت د سليمان شم

وژغوره مې د دې ځمکې له وړو وړو خدايانو

چې کروړ پاتې تش يوازې ستا په نهی او فرمان شم

درته څو په سوالو سربه، یم ما داکړه یا هغه کړه،

بس همستا چې پرې رضاوي، پر هماغه لار روان شم!

۱۳۴۲ل.

## د مینې ناورین

وسوم اور د انتظار، خوته رانغلې

سپېلنی وریت په انګار، خو ته رانغلې

په درشل کې د ښکلا د پیغلتوب دې

ډېر سرونه شول بلهار، خو ته رانغلې

چې مو کړې وو تړون پکې د مینې

وران ویجاړ شو هغه ښار، خو ته رانغلې

مال و سر وهست ونېست مې له یو سره

کړه دا ستا له سره ځار، خواته رانغلې

چې ښکالو مې ستا د خیال د پښو ترغوړ شوه

ما کړه فرش په لېمو لار، خوته رانغلې

د تیارو له ځنګله هسک لکه شهاب شول

درنو سپېدو سپېدار، خو ته رانغلې

توره شپه مې ورونله ستا ګلمخ ته

لکه پر مخه تر سهار، خوا ته رانغلې

زه په خیال ستا د اوږدو زلفو کړیو

وختم پر سرد دار، خو ته رانغلې

ستا سر وورته یې ، لمن له ګلوډکه

شو خزان هغه بهار خو ته رانغلې

چې ښندلی می وای ستا د ناز په پښو کې

شو مې تېر د ځوانۍ وار، خو ته رانغلې

لاس پر سردې کړم له ژوند اسرې د هو کې

پر ما خاورې شوې انبار، خو ته رانغلې

ماد خپلو هډو پلو له ایرو جوړ کړ

درته ځلی د یادګار، خو ته رانغلې

ما وېل بلې مې له لوره کړې د مینې

یو څو شمې پر مزار، خو ته رانغلې

ستا د مينې د اورونو له ناورينه،

ارمان يوړ ګور ته زيار، خو ته را نغلې !

پېښور ۱۹۹۴/۱۱/۳

## رپاند سپېدارونه

نه رائې نوره ستا د خيال د مکېزونو ښــــکالو

ستا د موسکاوو د ګلونو د وړمونـــــو ښکالو

زما د زړه زمولې باغچې راتانـــــدوي نه نورې

دا ستا د څڼو چمبېليو د عطرونـــو ښـــکالو

د رېغه چې غوړ ته د تورو غوړېو نړۍ نه رسېږي

د سرو بريو د برياوو د برمـــــونـــو ښکـــالو

چې تور داغونه يې د شپو د واټـــونونو پريولل

نه رابهېږي د سپېـــــدو د رڼـــو بونو ښکالو

نوره تر برید ستاد دعا د سیورې نـــه نغاړې لار
دبورېنېدلو تلوسو د شوګیـــــرونو ښـــــکالو

لامې راځي د بورجلو له خوګـــلنـــونـــو هسې
دستې زړونو د زګیرویو او ستمونـــــو ښکـــالو

چې کانې بوټې یې د مینې د بېدیــــا نـــه نغوږي
چامې لوټلې د باور د کـــــاروانـــونـــو ښکـــالو

زما د مینې تندې لیکې کړې راسمې ګـــــونـدې
ستا د ښایست د هسک د ستورو د خالونو ښکالو

زه به د شپې د تور ځنګله د مرګ تر پـــــولې واوړم
که دې نسیم له سبا ښار راوړي د پلونو ښــــکالو

چې لکه پرخه په لمریــــــنو تنــــابـــو وزانګي
کړې غځونې مې د هســــــې سهـــــارونـــو ښکالو

شې به د تورو ګورو وریځو تندرونـــــــو پــــایله
د درنګه خورو کجـــــیرانــــــو د خوبونو ښکالو

پرې ! د مهال دا غرونه غرونه چـــوپتیا وبورېنوي
دباد بهیر کې د رپاندو سپېدارونــــــــو ښکالو

چې شنې گومبزې دوختو کړي انگازې انگازې
وابه خلې ساه د تلبهاندو بهیرونو ښـــــکالو

مشه چې ووځي د زمان له تبجن ذهنه زیـــاره،
ستا داند واند دښکلا ییزو انځورونو ښکالو !

زانگو کڅ ( مزینه ) ۱۹۹۲ / ۴ / ۲۸

## دکلمینې په تور

زمانې کړم هسې ببل لـــه تـــازړه سره
لکه گل چې څوک راپرې کړي له ډنـــډره
درسته شپه په تلوسه ستا د راتـــلـــومې
وې د سترگو ډیوې بـــلې تــــر سهره
کړ رازمول د باور باغ بې باوری ســـــتا
که ښېرازوم لکه باغ ستـــا لـــه باوره
خول ما خول ستا د ناخوالو په تـــوبریو
نېز د وینو مې بهاندلـــه هـــر پر هره
ماکړ جوړ نارنجیستان ستا ســـباوون ته

د بلهارو پرندو ویـــــنـــو له گلکره

چې د سترگو سمندر کې مې غوپې خورم

نور نو څه غـــــواړم د اوښکو له گوهره

پلوشې چې یې د لـــــمـــر د برم غمې ول

چاراکوز کړ هغه خول زمـــــا لـــه سره

درناوو له یزدانــــــه پـــــناه غــواړم

د تیارو د دېوتایانـــــو له محشره

راستنې مې د حیا د کـــــلي پېغـــلې

سر سر تورې له تـــــالاوالا گـــودره

چې مې سود پرې د کابل د گلـــکڅو کړ

لاس پر سر کړم چاله ښکلي پـــېښــوره

لکه نم که د گلمینې په تور نبست شـــوم

خو تلپاتې ژوند مې و موندہ لـــه لمـره

لا د سره شعر الهام پـــر مـــا راووري

ستا د غږ د سرو وربښـــمـــو لـه بستره

ما ورکړې څو څو وارې مرگ تـــه ماتې

ما دانگي څو څوپلا د دار لـــــــه ســـــره
دڅو ورځو پر چوپتــــــيا زمــا ومه شــه
کړم نړۍ به ډ که بيا له شـــــــور وشـــــره
پکې ژغور يې دارمان چې نغښتی نه وي،
زيار ببزار دی له بې ساه هسې هـــــــنره !
پېښور پوهنتون. ۳۰ / ۲/ ۱۹۹۶

## د دوست په ياد

دامې ورکړه مين هوډ مــــــاتـــــــــــې اجل ته
څه هېښتيا که دې ژوندی راغـــلــــــم درشل ته
ما په زور د پاک ايمــــــان سپېڅــــلې مينې
بدلون ورکړ کــــــــــړو ليـــــــــکو د ازل ته
د اور وينو ناتار چـــــــــبرې لېـــــــــږدولې
تش سلام مې وکړ ستا ســــــوي بــــورجل ته
هره شپه مې د ياقوتو جــــــوپـــــــې بـيا يي
ستا د مينې د يادونو تـــــــــاج مــــحــــل ته

ته لواکمنې د ښکلا د درست جهان دې

نه رسېږي د ښایست پسرلي ول ته

لا پسرلي دې د ځوانۍ په غوړېدو دي

لا پسخېږي گلکځونه دې وربل ته

چې زما د وینو رنگ دې وربښلی

بیا دې اړ ایستم د سرو شونډو غزل ته

د بڼو غشو له خیال سره دې لوبم

نور څه نه لرم د ژوبل زړه تسل ته

ستا مالگینې کرشمې چې پرې راووري

پرهرونه مې اړ نه دي بل درمل ته

د ناکړې گناه پړه راوبښې چې

ننواتې دې راغلی یم و ستل ته

د بري تر برید اوږدې خونړۍ لارې

پتري بویه مات کچکول د یون تکل ته

د تبرو خولې یې په وینو تکې سرې دي

زړه مې سوزي سبرونو د ځنگل ته

چې يې دوست ترې، پر زړه داغ لکه لاله ولاړ،
زيار په کومو ستـــــرګو ولاړشي آمحفل ته !
اکسفورډ، ۱۵/ ۱۹۹۶۱۰

د امين الحق امين د يوه شعر په لار ویٔ
(اوس ګوزاره د زړه په وينه کوو... )

**بيا هم مينه کوو**

موږ خو د سر په بيه ميـــــــــنه کوو
هر يو ازمېښت د زړه په ويـــــنه کوو
نغاړو پر ځوکو د بڼو خپـــــــله لار
د مينتوب خبره سپـــــينه کـــــوو
يو، له ازمون بتهیٔ مخسور راوتـــــي
چې اراده تل پولاديـــــــــــنه کوو
نور د مهال په دروهونه دروهـــــېږو
هر يوه چاره په ربښتـــــــــينه کوو
موږ يتيمان خو په ژړا پـــــاخـــــه يو

څه به فریاد له هر ناوریـــــــــنه کوو
ګروهه ایمان لرو ، پر خپـــــله پوهه
نه چې پلپوټ له دین سادیــــنه کوو
لکه د لمر مو ژوند جګړه ښـــکاره ده
نه لکه غل برید له کمیـــــــنه کـوو
فرهادي عشق مو خسروان لـــړزوي
د ښکلا زباد لکه شیریــــــنه کوو
که مو په ستونو کې نغمې وچې شوې
موږه ځانګغوځ بیا هم ګلمینه کـــوو
هغه اسره دې وخوري سر ، چې به یې
له ځوځ ما ځوځو ، چین ما چیــنه کوو
رنګ و نژاد نه شته په لوښـــه کې مو
په نوم انسان باندې لوریـــــنه کوو
ځئ چې پر ژوند یو بل ته غاړې و ځو
څه به وير يو د بل پر مـــــړيـــنه کوو
له خپل تګلوري جاروا ته مونـــه زده

هرڅه له خپل دود و آیـــــینـــــه کوو

ځان و جهان دي بدلول مو مـــــو خه

هر یو تکل په دې اړیـــــنـــــه کوو

مینه مو ژوند و ژوند مو مینه زیاره،

مینه مو کړي، بیا هم مینه کـــــوو !

اکسفورد / ۳۰ / ۱۰ / ۱۹۹۲

(بولــله)

## پېژند نښې

سمندر مو شو د اوښکو، د هېندارو توپاني بیا

ځکه شوه، دمرغلرو، پر دې سیمه ارزاني بیا

د دې د هر له ناخوالو او نادودو راپرېوځي
ديما دبرم له خوله، سره ياقوت مو يماني بيا
چې هر دم قدم په بيه، د خپل سر راته پرېوځي
سهارونه رنجني شو، مابنامونه ظلماني بيا
دزړه مېنه مو تالاشوه، د ژوند خونه مو ميراته
له وربوی د مينې لېږدي مو، خوښي او ورکماني بيا
د فرياد فرياد د غرو له، يادونو نه مو وځي
آتلپاتې تلبلا نده، انگازه اله ماني بيا
چا وړو وړو خدايانو، را دو ښارې کړې له هسکه
څه څېرې اهريمني او، څه ارواوې شيطاني بيا
د پېرېو دراکولاوو، کړې راو چې دزړه وينې
چې کړو هسې يې د تېرو اوروينو ارماني بيا
ګروه پلتهونکو دا جهان، راباندې هسې جهنم کړ
کړ راکوز يې څه ناتارو، څه بخو له اسماني بيا
لا له تېرو ناورينو مو، سمه سا اخېستې نه وه
دې ګر ګرو راوسته، راباندې نوې پرېشاني بيا

څه تور زړو ابليسانو ، رابلو سلي پر آويجه
اچولي يې پر مخ سپين، نقا بونه يزداني بيا

زلزلې د زمانې پر ، خليلي کعبې راګډې
رغاونې ته يې بويه، څوذبيحه قرباني بيا

په نمات د زورواکی د ټينګولو رايرغالي
غله په نس کې ها د تورې، وحشي اسپې توریاني بيا

په ګناه د کنعناني، رنګين ښايست يې له هوسه
چا ببلارې زليخا ، ښکلی يوسف کړ زنداني بيا

د زړه ښار مو و ودان، له غلغلې د پاکې مينې
کوم چنګيز و لورو له ، پرې يو مخ ورانه وراني بيا

چې تالان مو پورې شوی ، د ښکلاوو پر ماڼيو
شي به څنګه ځلندوی مو ، ارژنګو نه دماني بيا

دغه څه کانې راوشوې، د زرتشت پر اورتونونو
رانړېږي له يو مخې، بور جلونه زورواني بيا

دي راګډ پر ګلبڼو مو ، د تنکيو ناوکيو
څه وحشي تورې سيلۍ او ، څه بادونه خزاني بيا

چې اغزو ته غاړې وځي، د پانړېژ له بدو ردیو

څه شپېې مو پر گلځانگو ،دې راغلي مرگاني بیا

چې یې کېږدي بخد یانیانې، خپلو تورو وربلو کې

وبه نه سپړي گلونه، هاگلبوټې با میاني بیا

نه راوړې مو نور کرلې پرندې وینې سره گلونه

نورې نه به شي گلونې، گلغونډې ارغواني بیا

نه به راشي پسرلي مو، پر زمولو سبرونو

نه به ووینې پر خوب مو ،سپین سپېدار هغه ځواني بیا

نه به ببرته را په برخه، هغه تللی برم پر تم کړي

نه به وکړي زمانه، پر موږ هغه مهرباني بیا

واړه سر پر گړنگونو، جلوهلو بیا بانونو...

څوک به وکړي دور کلارو، لارویو څارواني بیا

درنو ورځو لوټمار دي، راته ناست په هر پړاوکې

لوټوي مو د وربښمینو، بهیرونو کارواني بیا

د خپل ژوند سرو سامان،له وېرې و نه ژاړو څنگه

دبې سروبې سامانو ،دا بې سرو ساماني بیا

بې له دې له بې بنسټه ، بنسټپالو شي څه تمه

له دې هسې ورانکارانو ، نوکرانو نرماني بیا

چې پخپله دي بېلارې، څه راوښیي به لارې

لارو هونکي به شي څنګه، لاربنوونکي رښتیاني بیا

مدرسو کې د ځاینا ستو ، ګوډاګیانو روزل شوي

د هماغه لار د نمسیان، ملاعمر و رباني بیا

که ټول عمر یې وو ځپلي، د اسلام تر ږیرې لاندې

کار یې واخېست له هماغه، میا ملا او روحاني بیا

شور بازار که وران ویجاړ شو ، خوبې شته حضرت بچی لا

چې له پښو وغورځوي، روښانتیا یې پېر اماني بیا

واګې واخلي د پردو په زور له لاسه د وګړو

د امان پر هېوادوالو وزغمي بې اماني بیا

خاوندان د پوهې زده کړې، له یو مخې کافران کړي

دین دولت ورکړي پر لاس د ، ناپوه غله کلکاني بیا

دي همهغه زنځیري سپي د ، تاریخي ښکېلا کګرانو

وراغوستی که سپین ماسک یې، پر تور مخ د اخواني بیا

چې ربنتيني دښمان يې، د اسلام افغان ګڼل ټول
دا لاسپو څي يې شه ځار، لهآسيدِ افغاني بيا
لرې نه ده چې دينپلوري، سوادګر راته سور اور کړي
خپله پاکه او منلې، عقيده مسلماني بيا
شريعت محمدي، يې وهلی دی پر بډه
سياسي شان شريعت يې ، را ايستلی خپلځاني بيا
درحمت د آيتونو ، پرځای غوږ کې پوکوي مو
بس د قهرو د پر غز ټول، آيتونه قرآني بيا
د ناکړو ګناهونو ، ګناهګاره نه ده څه ده؟
چې دردونه وزغمو واو ، وګالو ببدرماني بيا
حق د کار و ژوند ورکړی، چې ښځمنو ته اسلام وو
جاهلانو پرې د جهل، دور راوړ باستاني بيا
دا چې تاج د کرمنا يې، کړلتاړ په خپلو پښو کې
انساني بد چلندونه، يې شي څنګه انساني بيا؟
چې له سجنه يې بتر هم، دغه ژوند راباندې تريخ کړ
پس له مرګ به جنت څه کړو ، هوسايي او انساني بيا

دنیا یي حراموي را ، باندې ځکه یو مخیزه

چې خپل ځانته کړي تر لاس، ټول خوندونه رضواني بیا

د اړتیاوو دواړه رازه، خو غوښتونکي د انډول دي

که هر څومره رواني دي، هومره بویه جسماني بیا

په پلمه مود دین ساتي، وروسته پاتې له نړۍ نه

راته هېښ که نن‌ني دي، څه به وایي سبا ني بیا؟

هیڅ را پرې نښوول لنډ اندو ، که مو ښه وه که مو بدوه

که به و وینو پر ژوند د ، خپلو ورانو وداني بیا

د تخنیک پوهې بلو سونکي، په پلمه د ګروهې غواړي

کړي بې برخې له ګډ ژوند مو ، او سیالۍ د جهاني بیا

زموږ ژوند له ډېرانونو ، چړچوبیو راهسک نه شو

نور شو هسک له اسمانځکو ، کړي پلټنې کیهاني بیا

منځنۍ پېړۍ رایادې، د لوېدیځ بنسټپالۍ کړي

راولي په درې رزم کې هغه دور نصراني بیا !

دښمنان د یون خوځون او ،بشري پرمختګونو

باله ځکه شي تورمخي، تور شاتګي توریاني بیا

سیند په شگو نه بند ېږي، غواړي بند یې کړي په ږیرو
او را وڅرخوي څرخ هم، پرشا بېرته زماني بیا
زور د خلکو زور د خدای دی، څه په کار ازارول یې
پرلو ورځ به یې په مخ کې، زاز وکاندې پښېماني بیا
سپکاوی د پرگنو یې، رواکړی دی چې ځانته
ده همدا یې له لوی خدای او ، پاک رسول نافرماني بیا
څوک په مرگ و څوک پر ژوندبه، ځنې دروميې پناه کېږي
وران هېواد به وي ورپاتې، کړي پرچا حکمراني بیا !
دځان واک ترې بېواک اخلي له خپل کوره بېکورېږي
هریو ډوب په خپل خپل ویر کې، هرې خواته ځانځاني بیا
لاس پر سر، کډه پر شا ترې، ټول بېزار په توره تېښته
د خپل سرد ژغور لپاره، به مني سرگرداني بیا
ورته پاتې له ناکامه ها بېوزله او بېوسه
چې یې برخه له ازله ده، خواري او ناتواني بیا
پړ اوونه مو گاللي، ترښارونو رسېدلي
راتپي راباندې ژوند د، لولنگره کوچیاني بیا

نو مهالی، دودیالی او ، پتمن ژوند راځنې اخلي

رانه جوړ کړي چې له سره، بدوي او بېدياني بيا

په دې هېښنده پړاو د کمپيوټر کې نور پېغور دی

له دود وتې دينواکي، ټبرواکي او خانخاني بيا

اسطوره به د ضحاک و فريدون وي هسې پاتې

يو له بله به اخته وي، توراني او کياني بيا

دا استازي د مرگ ژوبلې، ورور وژنې، اور و وينو

غرجي وژني په غوري او ، پکتياني په جوزجاني بيا

زاړه نوي د ښنه غواړي، پښتون نور هم وحشي زياد کړي

په اخوان طالب يې کړي، د مليت ترجماني بيا

بلې ساتي غرغنډې، د خپلمنځي جگړه ماريو

سره اچوي پښتون، تاجيک ، مغول، نورستاني بيا

پر سپېڅلې پاکه خاوره ، د ميرويس احمد رابلوسي

د مريبو مريبان راوژني، هوتکي او دراني بيا

څوک چې ځان بولي افغان، افغانستان بويه گډ کوريې

نه چې وېش کړي، د شمال سوېل، بامي بدخشاني بيا

تاندوي مړه خوګلنونه، د ګروهي تنګ نظريو
دهندو او مسلمان، شيعه، سُني او قاديانی بيا
د پرديو لاسوهنې،لمسوي بيرته له سره
د عربو او د عجم پاکستاني او ايراني بيا
دا په دې را ورانوي مو ، د وياړلي تاريخ پلونه
چې راپاتې نه شي نوره،کومه نښه نښاني بيا
نوم نښان و پرون نن او ، هم سبا راځنې اخلي
خدايزده وبولي به څوک مو ، عبراني يا آرياني بيا
نه مغول تورک و تاتار او ، نه هونان نه ارمنيان او
نه عرب و نه عجم او ، نه هنديان ويوناني بيا
اورتونونه به ساړه وي، مزدکونه دړې وړې
نه کيدار، کابلشاهان و نه يپتل و کوشاني بيا
نه به ګروهه وي راپاتې، زرتشتي او اسلامي مو
نه به لګي موڅه څرک، په سويل، شمال، لويديځ، ختيځ کې
دغرجي او کابلي او ، زابلي او غورياني بيا
شرنګ د تورې درستم به،انګازې نه کړي زابل کې

نه به هغه جنگيالی، کک ِکهزاد وي سيستاني بيا

دبلخي او زابلي، اراکوزي او گندهاري او

دسکه افغان پټان و ،دپښتون سليماني بيا

برم پرتم به يې دتورې او مېړانې نه وي چېرې

(پټهان اگيا )به نه وا ،يي له ډار هندستاني بيا

نه به کروړ وي،نه به سوبې دکابل زابل زرنج وي

نه مغولو ته شېرشاه، خوشال خټک و روښاني بيا

گورگينوالې به نيولی، له هرات تر کندهار وي

له آمو نه ترجمنا به، مغولوالې گورگاني بيا

نه پرسر به د محمود کېږدي، څوک تاج په اصفهان کې

به به وړی څوک شمله کې، وټومبي د دراني بيا

نه به بيا کله راپورته، له ميونده شي ملاله

نه به ورک غازي ادې کړي، له کابله برېټاني بيا

نه اکبر، ايوب، جانخان و، نه امين و اڅکزی به

د دښنو پر ضد شي مله د، مير بچه، کوهستاني بيا

نه به وي څلي، نرخونه، نه جرگې نه ننواتې

نه پښتو پښتونولي او ، ننګ مېړانه ښه ځواني بيا

نه به ياد شو د نړۍ په، جغرافيو تاريخو کې

نه پښتون او نه افغان او ، نه بخدي خراساني بيا

نه پکتويس او نه پکتين او ، پرسويتي پرسوانا

نه کښېني نه پاسني او ، نه روهي روهيستاني بيا

پلټونکي د موزيم به، لالهاند راپسې ګرځي

لټوي به مو ناچېرې نشت اباد کې نشاني بيا

خدايزده چېرې به مو مومي، په لاسکښنو لاسوندو کې

استوګن د پښتياناوو ، او له پښته پښتياني بيا

بيلابېلې د لاس ګوتې، خو يو سوک وو ګډ دښمن ته

څه سړبن، څه بېټني، غلجي غرغښت و کرلاڼي بيا

کاشکي واخلي انځورونه، موکه ساماتو آينو کې

او راجاروځي مو بيرته، آوختونه پخواني بيا

رانه تللې مرورې، نيکمرغۍ مو راستنې شي

له بورجل مو کډه وکړي، د ټول عمر ستوماني بيا

تور و سپين مو د لېمو ، پسې اوبه شول دربغه دربغه

توري شپې مو لاله رنګ شي، سپينې ورځې مرجاني بيا
د برخليک پر تندي ګوندې، مو راتاندې شي له سره،
د نړۍ له نقشې ورکې، پېژندنښې افغاني بيا !

اکسفورډ ، دېسېمبر ۱۹۹۲

## سليماني ګوته

دلمر پر لور مې هڅه کمه له ګـــــــوربـــــته نه ده
چې مې پر بوتې اراده لــــــه خپـــــل الوته نه ده
که د ځانګغوځ بلبل په څير مې نغمې ستونې کې مري
لامې شتۍ وتې د برم پر تم لـه ګــــــــــورته له ده
دا دځو ورځو په غليا او خــــــا مــوشـــۍ مې شه
چوپتيا مې کمه له غـــوغـــاشور وبګــــــته نه ده
پر ځان ويسا ، ځان بســـــيا ينه رابښـــــلې ميني
پر چا تړلې مې هستي لکه پـــــــېروتـــــه نه ده

بل به د چا له لاسه وي، دا توره ورځ را بـــــانــــدې

که د نا نڅولې زمــــــانــــې د زور له خرته نه ده؟

د وینو لارې مېږني پربوای شي

شونې دا چار له کوم نرګته نه ده

زه او رقیب له وبله زور، له مــــودو پــوه یو زړوکې

زموږ تر منځه د څو ورځو میاشتو نــبنــــــته نه ده

دې ښه او بد تل د هر چا د کړو وړلار زیـــــږنــــده

دا خو د لاس، تلې تندې له لیک و کـــوتـــه نه ده

بیا هم د واک تر غمې لاندې ټول جــــهــان دی زما

څه که پر ګوته مې هغه سلیماني ګوتـــــــه نــه ده

هغه کمیس وو د یوسف چې یې یعقوب بــــینا کړ

دا معجزه پوره له بل کوم عـــــــادې خـــته نه ده

څومره چې تا نیولی ځای زما په زړه کـــــــې ګلې !

هو مره مې بله ښایسته را نژدې زړه تــــــه نــه ده

دومره ده ډېره خوږلني ستا د خولګۍ اوشــــونډو

ډکه له هسې خوند مزې مـــــــنه، مـــــند ته نه ده

څنګه به وو ځي د مينې لــــــــه وربــويـــــه زما
چې مې لاوتې ستا څېره د زړه له وتــــــه نــــــه ده

زما د زړه ستنې کړې دي همدا ستا پــــر لــــــوري
که د سجدې مخه مې ستا د کاله وره تـــــــه نـه ده

چې له ګوګل وکاږې زړه، نښه پرې نه ږدي تـــــر شا
دا خو څه ګرانه ستا په شانې د زړه غـــــــله ته نه ده

چې ستا د ناز ښکلا انځور و ځلولای نــــــه شـي
هومره د مينې د باور اينه مې تــــــــــته نــــه ده

چې بشپړ نه شم کړای د سترګو د ښايست غزل دې،
روي رديف قافيه هومره هم رانجــــــــته نـــه ده !

اکسفورډ ۹۷/۱/۵

## دپاتېدلو هيله

په زړه کې پالم د پسرلي د برېـــــــــدلـــــو هيله
بيا د سپېدو د سپېدارو د ټوکېـــــــدلـــــو هيله
بويه د توري تياري شپې په ګور ځنــــګـله کې راته

د سباوون د نارنجباغ د غوړېدلو هیله

درژېدلو گلبڼو د ښیرازۍ لپاره

مه شه راز مول د ستر ارمان د رژېدلو هیله

کاش شي را تانده دزرتشت د اورتونونو په یاد

د سرو غاټولو د ډیوو د بلېدلو هیله

که د وړنگن کمند له تاب یې لکه پر خنه یم

بیا هم لرم د لمر پر لور د هسکېدلو هیله

په سره بټۍ کې د گوگل مې لا تر پکې وهي

د سره منزل تر وروستي برید د رسیدلو هیله

د هېڅ وحشت توري منگولې را مروړلای نه شي

د ځنگلي تورو شپېو د لښېدلو هیله

خدای مه کړه واخلي په سنگسار گروه پلټونکي رانه

په منصورۍ گناه پر دار د زنگېدلو هیله

لکه یوسف خپل ښایسته ښکلي کنعان ته لرم

د بېلتانه له تورزندان د ستنېدلو هیله

نه چې ستي کړي نمرودان د خلیلي مینې مې

پر سره گلیون د سرو لمبو د اوړېـــــدلـــــو هیـــله

راته سپېڅلې تر کعبې د ابراهـــــیـــــمـــــه ده هم

له لات منات د خپل حرم د پاکـــــــېدلـــو هیـــله

ستا د لېمو په اینو کې شي تـــــر ســره گونــدې

زما د مینې د باور د ځلـــــېدلـــــــو هیـــــله

نه لرم ستا له اورنۍ میـــــــــنې زه بــــلـــه اسره

بې د ناورین د مرغلین د پرېـــــکېـــــدلـــو هیله

پرېږده، زه هم په خپل تدبیر تقدیر ته ماتـــې ورکړم

مه راوژنه د ځان جهان د بـــــــدلېـــــدلـــــو هیله

که مې مال اخلي، سرمې اخلې، هرڅه اخلې و اخله،

خو مې مه اخله د افغان پاتې کېـــــدلــــو هیله!

اکسفورډ ۹۷/۹/۱

شلڅپیز:

## ورېښمين شعر وييونه

پرېږده، تورتیاره برخلیک مې، وټوکي لکه سپیدار

سپینې سپېدې بیا

د سبا څراغ مې وڅښې، وروستی څاڅکی د ننځېو

د تورې شپې بیا

ونغاړي چې ترګلکڅه، د ژغورتیاد

واټنونو تنابونه

نه کړي ښکېل د ژوند ببړۍ مې، د نېپتون نوح

توپاني مستې څپې بیا

څوبه سوزم د نیمسو، نمرودانو د کسات

په سرو لمبو کې

خلیل وزمه پسرلی مـــــــې، پر مخ پر انېزي د سرو

ګلـــــو بـــا غچـــې بیا

د حجاج و هلاکو ، څپـــــــــرې مې ووځي، د تاریخ

لــــــه سرو یادونو

چې و نه بهېږي نورې، د بلـــــــهـــــارو بېګـــناه

وینو ویـــالـــې بــــیا

چې اسمان دي سپـــولي ،ترې د لور و خواخوږۍ

اوښکــــــــې تر اوسه

کوشېږ و اخلې د نـــــــــانه‌ولې، زمانې له لاسه

مـــــاتــــــې اینې بیا

لکه پرخه له نېستیه، را په بـــــــرخه چې هستي

جــاوېدانــــــي کړي

شي د لمر مزدک پر لوري، بدرګه مې ژوند ښاندې

پلــــــوشــــې بیا

مه شه هېڅکله راتـــــانـــــدې، نورې څرېکې

د نـــاورو پرهرونو ،

نه چې شي مې د وربښمينو ، شعروييونو پر اوږو

بـــــاندې درنې بيا !

اکسفورډ ،۳۱-۱-۹۷

ځلېرويشت ځپيز:

**لمبېدلي سهارونه**

تاند ښېرازه پسرلي دې، وانوم چې د وړمينو ،

خورو ځنو له گليونه

گوندې بيامې شي په برخه، د کرلو پرندو وينو ،

د گلمينو گلبنونه

د گلپانې په شان زړه دې، چې زغملای کله نه شي ،

توپانونه د وختونو

پام ونه کړي عځونې، پر وربښمين بستر د ناز دې،

خوبولي تبر يادونه

شنډې وريځې کاشکې توی کړې، رڼې اوښکې پر تبجن تږي

بيابان زما د مينې

ومومي بيا رښتيا ينه، د سپېدو د خزانزمولو،

سپېدا رونو شنه خوبونه

د باور د نوتوکلو، رڼوبيو په رڼاد تورې،

شپې له ځنګله تېر شم

شي مخروښي مې د تور، تياره برخليک په لمرچينه کې،

لمبېدلي سهارونه

د زمان ازمون بټۍ له، مړه خوګلن لکه پولاد،

مخسور راووځم له سره

له ويلوب د سرپو کښېږدم، پر تندي د خپل وبلاړ مې،

اورني تک سره خالونه

چې چمن د ناوکيو، مې اوښتی د خوراړې،

پر ټاپو د ګوښوالي

ورته بويه چې کړي لاندې، د کوم خضر د ژغورنې،

لارښوونې د شپې پلونه

چا بادونو لولنگرو، پټ په غوږ کې د ويرژلو،

تاندلبانو ښونو ووېل

چې به نورې خولې سرې نه کړي، په سرو وينو د گلولو،

وينې څښونکي تورتبرونه

که هرڅو مره راښکېللی، دمهال داورو وينو،

زنځيرونو زولنو يم،

لامې هيلې زړه کې ناڅي، چې سبامې متې ښه شي،

هم له نن هم له پرونه!

اکسفورډ ،۱-۳-۹۷

شلځپيز:

## لمر تندره

دښايست دسيال پسې ستا ،لټ پرلټ ما درست جهان دی اړولی

خــو هېڅچېرې ما ليدلی، ستا په شانې نه دی بل ښايسته ښکلی

ځنگه نه اوسې د ښکلو ، ښکلیستان کې ته بېسارې او بې سیاله
چې نرسبس نرګسي سترگې او ، فلورا د گل ښایست دی دربښلی
دوربـل د سیوري شپول دې ،له سپین مخ ځنې شوهسې راچاپېره
مـومـنان سر پرسجده او ،په توبوشول چې لمرتندرې دی نیولی

نـــــــوره نــــه کړم څه پرواد ،بوربنورو واتهنو دغلیاکونو
چې شپبې تـــرې بوربنبدلې، هادشپې تیاره ځنگل دی مارونلی
چازما له سرراکښـــــته،دسپېڅـــلې پاکې مینې دبرم تاج کړ
چا په غشودجفامې،دښېرازباورگـــــوگـــــل دی راسکنلی
په ډگر کې د ازمېښت ما ،وخوړلې سرپرسر که ډ بـــــرې ماتې
بیاهم ویارم چې اوس هم لا ، یم هغسې ددښنودسترگــــــوخلی
ارمانژلې ولولې دي، چې انځورم یې دگــــــل بلـــبل په ژبه،
ځکه مادرته دمینې،دارنگیــــــــن پیغام دزړه په وینوکښلی!
اکسفورډ،٣-٣-٩٧

## دژغور زیری

نوی کال د پردېسی بـــــه، مبـــارک وو ایم چاته

تورې خاورې مې پر سرشوې،دژوند خونـــــه مې میراته

ښتنان د نوم نښان او ، د خپلواک ښکلي هـــــېواد وو

اوس بې پتې او بې پـــــته،یــــو ولاړ هـــرې درگاته

وو د خپلو لویو غـــرو ، غوندې درانه په درست جهان کې

سپکو سپک کړو هسې شان اوس، چې لیدای نه شو دنیاته

ښار و کلی، کور و اور مو ، سرو او تـــــورو لمبو وسول

نه تاریخ جغرافیا او ، نه فــــرهــــنگ پــوهه راپاته

چې لـــــه لاســـه د نانځکو یې،کډوال جلا وطن شو

ژوند کوو اوس د هـــمـــاغــو ، زبېښاکگرو له خیراته

بې بـــنستو بنستپالو ، بیخ بنسټ هـــــسې راوکېښ

چې اوس کــــړای نه شو هستي مو ، نړیوالو ته کړو زباته
غبرګې پــښې راپرېکوي چې، پر درشل د دربمې ږدو يې
يــــوه نیمه زرۍ بیــــايي، مو شاتګي بیرته شاته
ومنډلې يې ژوندۍ د ،کور پـــــــر ګور ټولې ښځمنې
بنسټپال يې ((هـــم وهـي او ،هم يې نه پرېږدي ژړاته ))
راونه ښووه د افراط، تفـــــريط تر منځ انساني لار چا
ورک افغان، افغانستان شو ، له تفــــــريط و له افراطه
جلادان ترې د امين و ، ګلبدين غونـــدې جـــوړېږي
ولسواله یا دینواله، چې له خپل کچه شـــــــي زیاته
هر ربښتين او پوه افغان ته، د يوې سوړې مـــاران دي
سر به ټيټ نه کړي هېڅکله، هېڅ اخوان، طالب مــلاته
وران ويجــــاړ هېواد به فتح، کړي په مرسته د پرديو
خو دماتو زړو پـه ښکېل کې، به يې مله وي همېش ماته
عيسايي بنسټـــپالۍ ته، منځنۍ پېړۍ پېغور شوې
بدنامي د يوويــــشتـــــمې، اسلامي بنياد ګراته
بلهاري د ملايي، قـــبايــلي وراستــــه نظام يو

څه کوو کنځـــــا ښېرا به، روس، انګرېز و امریکاته

ګوندې بیاهم دغه کال شي، هرافــغان ته دژغور زېری،

شي د تلو ارمان پوره مو، بــــیا ازادې پښتونخواته !

لندن، ۹-۳-۹۷

د خاطر پرغزل

بیادې سهي نه کړم په هغو سترګو...

## پښتنې سترګې

راشه ووینم دې په مـــــــړو سترګو

یو وار په هماغـــــو پخوانو سترګو

بس چې دې پــــه بـرندو ژوبل کړی یم

مه مې مړ کـــوه مـړې ! په مړو سترګو

مــــا خــــو دې نشــه نشه کاته ژړل

نــــــه دې وم خبر لـــه خمارو سترګو

کړای نه شي شهلا نـــرګس سیالي کله

ستا د ښایسته ښکـلو زرکنـو سترګو

سرشوم پر میرو د غرڅــــــنو په شان

ستاله هوسۍ وزمو غــرڅــنو سترګو
غواړې چې خبره شــــــي زمـا له زړه
وپوښته له خپلو غلــچکو ســـــترګو

تــامـــې ادم زړه لـــکه رباب غوندې
ګډ پر شور فریاد کـــړ په درخو سترګو
توري پښتنې ستـــرګې به ور نـــه کړم
چېرې هم د چا پـــه زرغونو ســـترګو
زه که لاس پر ســــر له خپل ارمه شوم
داووهم لمـــس ستاد ښاپېرو سترګو
مېشته یـــې هغسې د زړه کور کې مې
څـــه کـــه مې پنا شوې له لېمو سترګو
ډ یـــــر دې په سرو سترګو ژړولی یم
نه چې درنه ولاړشم بیا په سرو سترګو

زیار پر داسپین سر له غزل څه غوښتل،
نـــه وای که خاطر د پښتنو سترګو ! !؟

اکسفورډ، ۱۳-۴-۹۷

## د چوپتیا پر اوږو

زه دې وړم ناز تـــــــل د وفا پر اوږو
خو ته مې نیاز وړې د جـــــفـا پر اوږو

نور به په مخ کې ســــــتا یو آه نه کاږم
که کړي د رنښت ستا د موسکا پر اوږو

ورته پر سترګو مـــې تیاره شي له ځاځ
چــــې زلفې نــــا ځي ستا پر اوږو

ښکاري پر مینه مې بـــاور نــــــه لري
دا چې ږدې ژمنــــــې د سبـــا پر اوږو

ګنه د خپل ښـــا یســـت د تاج غمي یې
لونم چې اوښـــــکــې د ژړا پر اوږو

که دې لمر مخ کړم ترمــې ترمې پرخه

بیا هم درېږم د ځلا پر اوږو
دومره دې مینه کې خوار زار هم نه یم
چې شمه بار د نن سبا پر اوږو

زه له یوه ځوړنده توپانه مخکې
لکه یو غریم د چوپتیا پر اوږو
لار لنډوم د سپېدارانو تر باغ
که بړبوکۍ یم د بېدیا پر اوږو
زه د اسمان په رنګ هېڅ نه اچوم
نیلي غدکه د ریا پر اوږو
تر وژنځای نور خپل دار نه لېږدوم
لکه بېوسه مسیحا پر اوږو
چې توري وریځې پر ژړا راولم
لکه تنا یم د برېښنا پر اوږو
لکه سپېدې د تورې شپې زړه چوم
ځم نارنجباغ ته د رڼا پر اوږو

ځنګه مې مېـــــــنه نړیواله نه شي،

چــې لېږدوم یـــــــې د دنیا پر اوږو !

اکسفورډ، ۲-۵-۹۷

## بې ماڼو ببړۍ

داله هسک ستا د ښایست، څه تندرونه راوربــــــږي

چې د مینې پر ورشو زما اورونـــــــه راوربـــــــږي

اوس پرځای ستا د موسکاوو د ګلونو د وږمــــــونو

ددې ځمکې د خدایانو پر غـــــــزونـــــــه راوربږي

بې ماڼو نوحه ببړۍ مې ده راښکېل په غر ځـــــپوکې

د نېپټون له بېلورۍ چې توپانونه راوربــــــــــږي

ځنګه کښې نه ني پر ویر د تاندلبـــــانو مې ویرژلي

چې شپه ورځ همدا بخولې ناورینو نه راوربـــــــږي

د اسما د ستورو اوښکو د رڼوب ګومان پـــرې مه کړه

د پولادو د ویلوبو بــــــــارانـــــونـــــه را وربږي

هر هر ستونځ یې چې یو طور وو د سپېځلې لن ترانې

اوس له هغو اسمانځــــــکو غرو ګټو نه راورېږي

د سپېڅلو پرښتو په بيګنا هـــــــو وينو سره مې

د فرعون د شتيو رګـــــبارونــــــه راورېـــــږي

پرکعبه مې له غچلېږده د بلو سګرو مـــهـــــو تانو

له سجيله د سکروټو سنګـــــېږومــــــه را ورېږي

چې هېنداري د لېمو مې ، ستا څېره ځـــلوای نه شي

ترې پر ځای د مرغلرو الــــماســـونـه راورېږي

پر بستر د شنو خوبو مې د چـــــمــــن د نـــاوکيو

د تورتمو واټنو نو پانړېــــــژونـــــــه راورېږي

چې د لمر مزدک پرلور مو ،نغښته لار په ميــــنه مينه

بيا پر زړه مې هغه تېر خوارړه يـــــادونـــه را ورېږي

اکسفورډ ۹ .۱۰.۹۷

## مېلمه پال زړګی

دا پر زړه مې تېر يادونه د جانــــان درومي را درومي

که شېبې زما د اوښــــکو د بـاران درومي را درومي

دا د چا ليلا د مينــــــې لېـــونــــي بلهاري شوي

وير ژړلې، برېښوکۍ چې د بيــــــابــان د رومۍ را د رومي
تل سمسوره پسرلي يې د ښايست د باغ گـــــــلخانې
پر گليــون يې واړه ښکلي د جهان د رومــــــي را د رومي

دا راوړي بوی د لونگو سپــــــرلنـــــــی نسيم له د ښتو
که وږمې يې د کمڅو د شبستان د رومـــــــي را د رومي
چې د مينې پلوشې مې ترلــــــمريـــــــن مزد که رسي
پرښتې مې هر کلي ته د اسمان د رومـــــــي را د رومي
ځکه برېښي، بنجرې د گلـــــــبڼو مـــــې هسې شاړې
پرې سيلۍ د پاڼرېژونو د خزان د رومـــــــي را د رومـــــي
پنا غواړم له يزدانه د سپـــــــــېڅلې پـــــــاکې مينې
که تور برېښې لره زما اهـــــــــريمنان د رومي را د رومي
چې مې سرې لمبې کړای پورې د ښکــلا پر ښکيلا کگرو
بس پرزړه مې د غه هيـــــــله او ارمـــان د رومي را د رومي
خدای دې مه راوړ انوي د ميــــــــلمه پال زړگي جونگړه
چې يوه مخ ورته غمونه د انـــــــــسان د رومي را د رومي

دا ژوندون د مرگ تر پـــــــولې يو نيمگړی واټن بويه
چې تر منځ يې د څو ورځو شپو کاروان د رومي رادرومي
پرېږده بلې وې د زيار پر مـــــــزار شمې تل تر تله،
چې زيارت ته يې د مينې پتنگـان د رومـــي رادرومي !

سويلي المان ۸-۱-۹۸

## د مرگ تر کومې

نغاړم ناپايه واټـــنونـــه پـــرمخ
نوي پر انبزم ارت څـــنډونه پرمخ
په ټول وېلاړ د مرگ تر کومي پورې
اخلم نا نغښتي پړاوونـــه پـــر مخ
له خپل مين هوډ به وا نه وړم کـــله
که هر څو وخورم گوزارونـــه پرمخ
زه د توپان هغه سر کښ مرغـــه يم
چې تمبوم سخت توپانونه پـــرمخ
د اندو واند په پـلـوشـــــو رڼوم

ټول نالاسبري لرلیــــدو نــه پرمخ
چې قافلې پوپـــنا کیـــږي پکې
لندوم هغه بـــیا بـانـــو نـه پرمخ

پر بړده، تیارې د تـور مهال ومینځي
چې مې راځي اوښکې رودونه پر مخ
ډیوې د ستـــــرګـو په سروب بلوم
وږمه په شپو کې مشالونه پـــــرمخ
پېر به دمینې د زنــــدان تیـــرېږي
کړم به یې ببرته ټول ورونه پـــــر مخ
تورې څېرې به رسوا کیږي نـــورې
څو به یې وي سپین نقابونه پـــرمخ
وینې مې ګوندي پسرلي راوړي چې
غوټۍ مې و سپړي ګلـــونه پرمخ !

المان ۹-۱- ۹۸

## استازګړی غزل

که ستا لمر مخ نارنجیستان، د سباوون راسپړي
پسرلني سمسور ګلان، زما ګلیون راسپړي
زه راوتلی له بټۍ د زمانې مخسوری
د ښنه به ما ته څه کیسې د بل ازمون راسپړي

دي خسروان سرپر سجده زما د مینې برم ته
فرهادي هوډ مې، خزانې د بېستون راسپړي

سپېڅلې لارمې نه پرېږدم، د چا په ورم او وراشه
راته هر څوک که فلسفې، د اپلاتون راسپړي

لو مړی یاقوت ورته د اوښکو د ویـــــرژلـــو بویه
که څوک ناپوهه گوهري گنج د قـــارون راسپړي

زما پرهر پرهر زړگی ، لارغـــــېدلــــــی نه دی
زاړه زخمونه یې، له سره بیا بېلـــــتون راسپړي

را وربېدلي تېر یادونه، پر ورشـــود ذهـــن مې
تېر پر تمونه له جېلمه، تـــــر جیحون راسپړي

په خپله سر تر پایه تول، په گناهـــونـــو کې ډوب
ما گناهگار پسې دفتر، د نن پرون راسپــــــړي

زرتشتي اوربه په لمن، دا هــــریمــــن پورې شي
چې یې اورپېښتي ، خو گلنو نه د اورتون راسپړي

د مینې لار کې تویې ویــــــنې، تویې نه دي تللې
تک سره غاټول مې ، د بلهارو مړبستون راسپړي

هېڅ مې مرگونې منگنې، سیلۍ وژلای نه شـــي

د مرگ خزان لکه سپرلی، تازه ژوندون راسپړي

زیار بـــه لاس وانخلي له داسې استازگري غزل،

چـې يې ردیف او قافیه ، نوی مضمون راسپړي !

اکسفورډ ۹۸.۲.٦

## د وا کمنۍ پر خول

سپوږمۍ مخ دې پلوشې د ســـبا لـــوني

گلوربمونه دې د شونډو موسکـــا لـــوني

د خندا د الماسي شغلو لـــــه بـــربښ دې

د ښایست د اسمان ستوري ځـــلا لـــوني

څنگه نه اوسي وړانگن د مینې کـــور مې

چې پرې وړانگې ستا ببساري ښکلا لوني

گلورین مکبز مې مل دی ستا تـــر موخې

سرې گلپاڼې پر تگلار چـــې زمـــالـــوني

چې ترې اخلي سرچینه د سپېـــدو رود مې
ها رڼوب د ا ستا د ستـــــــرګو شهلا لوني

پرور شو د خیال مې څرې هــوسۍ سترګې
چې ډ یــــــوې د اندو وانــد مې رڼا لوني

ستا د مینې یـــاد مې تانــد لکه ګل ساتي
چې د اوښکو شبـــــنم ټــوله شپه رالوني

څه تور ونـــګي واټنو نـــه مو تر منځ شول
سرې سپرغۍ مو بیا د ژوند پر بېدیا لوني

شي سور اور به په دې تــورو وریځو پورې
چې پرې غشي د ښو ســـــتا بربښنا لوني

ټینګ ایمان لرم پر برم د خــــــپلې مینې
چې هر یون به مې برې او بـــــریـــا لوني

پـــــر دې هيله او سه زياره چې تاريخ به،
سره غمي د واکمنۍ پر خول ستا لوني !

اکسفورډ ۸.۲.۸۹

## د زغم توپان

گلباغچې د سپرلي تــــــوپانـــــــي شوي
ټول چمن و شينيلي تــــــو پــــانــــــي شوي

دزرغا او غوړېدا په ولـــــولـــــو کـــــې
رامبېلې او چمبېلې تــــــوپانـــــــي شوي

پر چند ټولېچو مېشت مــــــاران د څـــــو
که سنبل و کشمالي توپـــــانـــــــي شوي

ته او وير و ناتار لېږدي نــــــور لــه ښـــــاره
ورکماني او خوشالي تــــــو پـــــاني شوي

نه تش سیند سمندر ګي، سمــــــندرونــه
چې ډنډونه او ترېلي توپـــانــــي شوي

سپینې ورځې يې راباندې تورې شپې کړې
بیا تور مخي زنـــګالــــي توپاني شوي

له اخوا د دیـــوالـــــونـــو د پېریو
توند بادونه ځنګلي توپـــانــــي شوي

بیا د بلو نمرو دي لمـــبو پـــــر وړاندې
ګلزارونه خـــلیــــلي توپاني شوي

د زغم او ښکې به هم جوړ د نوح توپان کړي
که د پېښو اسوېلي تـــــوپانـــــي شوي

اکسفورډ ۹-۲-۹۸

## پاک ایمان

څو مره زغمم ناورینونه ، خو جهان را خــــبر نــــه شو
په دا دومره ستورو سترګو روڼ اســــمان را خبر نه شو

دا په څه چم دا نګې وانګې، کړم د تور وحشت دا ړونکو
په تېول ښار کې غـــوږ تر غوږه ، یو انسان را خبر نه شو

له کلو مې په تکل د وچکـــالــــۍ تللــی له چمه
خزان لوټ کړه پسرلي مې او بــــاران را خبــر نه شو

زه ستا یوال یې لکه چونې، د ګـــــلونــــو چمـــنونو
تور پانړیږ ژبه را پرې کړه ګلیســـتان را خبـــر نــــه شو

غلیا ککرو د وختونو ، ترې مــنزل موخه خـــتا کــړل
خو هېڅوک له دې تالا والا کــاروان را خبـــر نــــه شو

څه بې شمېره لېونو مې، پکـــې بايلل خپل ســـــــرونه
د بلهارو وينو ترږی ، وچ بيابـــان را خبـــــر نـــــه شـو
تر دې زياته بېلوري به ، په نـــړۍ کې چـــا ليـــــدلي
چې رقيب مې وينې وڅښلـــــې ، جانان راخـــــبر نه شو

که مې څه هم ورکاوي کې ، ناغېړي يو هم ونـــــه کــړه
نصارا ، يهود ، هندو او مسلمان راخـــــبر نــــه شو

وم سکه رښتين بچی يې، له لرغونو مهـــــالــــــونه
مړه په پښو کې ورته پـروت يم، روهيستان راخبر نه شو

پر ورشو د آريانا اهــــريـــــــمنان راپنځـــــېدلي
زرتشتي نغري ورانـــــېږي او يـــــزدان را خبر نه شو

دا ينې په شان څرګند که، يار اغـــــيار ته هم يم زياره،
خو يو هم له نيت نمات و ، پاک ايـــــمان راخبر نه شو !

۲۰-۲-۹۸

## د بېلتانه د واټنو لاروي

لمر د ورځې پر وژن کړ ځان ګاره
هسک د شپې پر زړه چاودون کړ ځان ناګاره

د سپېدو د سپېدارو تورو بلو سګرو
پر رڼوب د سباوون کړ ځان ناګاره

غوړېدلې سرې باغچې زما له وینو
تورې وربځ مې پر ګلیون کړ ځان ناګاره

هغه بڼ څنګه سمسور شي چې مالیار یې
د غوټیو پر للون کړ ځان ناګاره

سرې بټۍ لکه پولادو از مېیلم
وخت زما پر دې ازمون کړ ځان ناګاره

پرښتې خو د مرګ و نه شوم وژلای
که یې زما پر بیا ژوندون کړه ځان ناګاره

تل څپاند چې اباسین شته نور څه باک دی

که جېلم مې پر جیحون کـــړ ځان ناګاره

د فرهاد د نامه برم هم نــــور اوچت شو
چې خسرو پر بېستون کړ ځـــان ناګاره
بلهاري شو د خپل ګـــنج د سپما ځکه
د موسی پر ورم قارون کړ ځـــان ناګاره
خپلې سخې د نمرود پکې لمــــبه شوې
چې خلیل یې پر اورتون کړ ځان نـــاګاره
زه به هم څه اند ېښنه ستا د بر خلـيک کړم
چې مې تا پر نن پرون کـــړ ځـان ناګاره
لاړ وو د ببلـــتانـــه د واتـــنو مې
پر یوون و پیو ستـــون کـړ ځان ناګاره
څه ناتارترې راپیدا شـــو چــې تور اندو
د ازما پر اوښتون کـــړ ځـــان ناګاره
څه هېښتیا که د پېړیو شاتګـــلپـــالو
نن د زیار پر دې غبرګون کـړ ځان ناګاره !

اکسفورډ ۲۰ - ۲ – ۹۸

نولس څپیز غزل

## شنې پسرلنۍ

پسرلي ول دي گلغونچې، بیا د گلڅانگو په کــــوڅوکې نغښتې
بیا یې لمبې د چا له وینو ، ټوکېدلو چمبــــــېلوکـــې نغښتې

د زمولې ځمکې په رگو کې ، زرغونتیا له سره ســــــا اخلي بیا
بیا تاند لبانې تلوسې ، د چمنو په شیــــنیلـــو کـــې نغښتې

سپینو وورو به جلوهو ، وچودښتو گـــــونــــــدې تنده څښلې
چې یې برید لیکې هرې خواته ،په ورشــــوو گلڅکو کې نغښتې

ستا د اواز له شنو وربښمو ، یې چې رنـــگ د ښیرازۍ اخېستې
شنې سیمفونۍ د ارغنون، ته وا دزیــــــرو بم پردو کې نغښتې

چې یاد نامې د اورو وینو ، د مهال لـــه تبـــــجن ذهن پر ېوي
هسې نشې ستا د ملالو تورو سترگو په پـــــیالو کې نغښتې
څه رنگینۍ چې لو رولې ، پسرلي پـــــــر سمو غرونو باندې
هغه یو مخ ستا د ښایست، په میـــــنه وړو مکیزو کې نغښتې

څه خوږ بویۍ چې کاروانونه ، له خو تن رالیـــــږدوي د مشکو
ټولې هغه ستا د موسکاوو ، د گلونو په وږمــــــو کې نغښتې

پکې بلېږي نن سبا ، چې له یو سر د ســــــرو رېــــد یــو ډیوې
توا ببېد یاوې دزرتشت، د اورتو نو نو پـــــــه لمبو کې نغښتې

که منگنیو پاڼریژو ، را وزمولل سمسور ښـــــــېراز څــــړمني
هیلې اسرې زما بیا هم ، ستا د لمرمخ په پـــــلو شــو کې نغښتې

تر څو به ژاړم د مرگ ژوند تر منځه خــــپل دا نـــاټاکلی برخلیک
څوبه مې پرېکړې د تدبیر ، وې د تقدیـــر په صحیفو کې نغښتې !

که مې د خپلو سرکو اوښکو، څپانـــونو پو پـــــنا کړه هر څه
لا سرې سپرغۍ مې د تېر برم، دوران نغري په خو ګلنو کې نغښتې
چې مې ساړه سمخ یونو نه، وژغـــوري ، د تورو شپو له تاړاک
لامې د مینې سوې څړیــــکې د زړګـي په پلورګو کې نغښتې

چې تېرې هېرې افسانې، د (یاریکو ) کـــړي بیا راتاندې یو ځل
هاغلبلې مې د چوپتیا ، د درنو غرو په اســوېـــلو کې نغښتې

څه اند ښـنه که نارنجباغ،د سباون کـــړ ، تـــــورو خړو پناه
شغلې ځلاوې بویه هم د سرو لا لونو پـــــه ایـــرو کې نغښتې

دا د رڼا زرغا موسم، به هم تـــیارې د تـــــورو زړو و څیري
بربښناوې تالندې وي ، تل د پسرلي دوربـــځو زړو کې نغښتې

څه ار مانژلې ولولې ، د سرو غـــړانــــــدو تکلونو زیاره
ستا د دې شنو پسرلـــــینو، پـه رنګینو ګلوییو کې نغښتې

اکسفورډ ، ۲۲-۲-۹۸

اتلس څپيز غزل

## تور غځېدلي پړاوونه

که سپېدې په خپل رڼوب د تورې شپې تياره ګردونــــه پرېوې
ګلمونګرې په رڼو څاڅکو د شبنم ، سپــــــېره مخــونه پرېوي
څنګه نه کړي د سپېد ارو ژبــــــــې مــاته د ځنګلونو چوپتيا
چې هېښمه د ښېرازۍ ټـــــولې بېدياوې سمې غرونه پريوي
څڅوبونه يې مه بـــــــولــــــه چې راووړې له لېمو د وريځو
دا اسمان په خپلو اوښکو وينې وينې سره څنډونــــــــه پرېوي

بيا د شر د خدای له هسکه راپرېوتي دي څـــــــه تـــندر تکې
څانګغوځ چونې په نغمو سوي الوي ګــــــــلکځـــو نه پرېوي

راوتلي يې که څه هم د ازمون له سرې بــــــــــــتۍ مخسوري
د هستۍ شنه شنه پسرلي مې د پولادو ويلو بو نــــــه پــريوې
وينې ولل په وينو ، لوښه د غېچ ترږو ، وينې څښونـــــکو ده تش

لکه څوک ګناهګاران په ګناهونو ګنـــــاهـــــونــه پریوي

دا ځه نه بنبل کېدونکي ده راشوې چې یې ګران شـــــو تعمید
له کــــــلو کـــلو مې خاوره د بـــــاروتــو بارانونه پریوي

ګوند بیا مې د بلهارو سر پرېکـــــــــړو لاروو ســــرامنې
داد وخت مخ ته تیاره تور غځېدلي پړاوونه پـــــــرېـــوي

چې زما د غرونو غرونو پېغ وزغم له اسو بـــــلو را زېـــرې
توري لړې به مې نورې دا څپانده څپــــانـــــونـه پرېوي

چې په بدو د بدایو جنت پېــــــرو پـــــــــړسېدلې همېش
شیخ ملا په استنجا ، د خپـــــلو خپـــتو دوزخونه پرېوي

غواړي زیار چې تر مرګ وروسته یې هندوان مړی ورو سوزوي
نه چې دامسلـــــمانـــــان یـــې په زمزمو ګناهونه پرېوي !

اکسفورډ، ۵-۳-۹۸

## د مینې ښاخ

ناز و خوب یې په لېمو کـــې سره ناخي

لکه سرې سپرغۍ ځلېـږي یې سره واخي

غبږ پر غبږ و خوله پر خولـه، غاړه پر غاړه

د خولو عطر یې د مـــخ پـــر مخ راڅاخي

خوبولې دا پرته لـــه ځـــان بې ځانه

زه یې تش کړم له تنـــیو ورو ورو کاخي

تر منځ ورک مو واټنونـــه د بېلتون شي

رانه ګرځي لـــرې لـــرې د غم کړاخي

په زاریو نـــنواتـــو پخـــلا کړې

خدای دې نه کړي تر سهار مې له خوا پاخي

کړې د میـــــنې د دښنو لمسون له مرګه

په خندا راغلي ببـــرتـــــه په ژړا خي

لکه یار پر خپل ببساري ښایســت ویاړ کا

هسې زیار پر خپله پـــاکـــه مینه ښاخي !

ببر منګهم، ۸ – ۳-۹۸

(بولـله)

# غرېو نيولی فرياد

مهال ګرځوي پر ما چپه مېچنې

په بلهارو وينو سرې د هسک لمنې

له کلو کلو زما پر سر راووري

له اسمانه د ناورين د اور د رغنې

نمرودي لمبې پر ما ګلزارېدې که

خليلي ګلزار مې اوس پر سوځېدنې

دارزو په وچ ګوګل کې مې زموللې

هغه شنه ښېرازه سا د ټوکېدنې

ناسپړلي شنه خوبونه مې لمبه شول

په کسات د ارم باغ د غوړونې

د فلورا له ببلورۍ، ټولې خدايګوټې

دي زما له ګل ورشو و ماڼيجنې

چا اور ګډي بلوسی اور له پرو مېتوسه

تش په پار زما دبڼ د سوځونې

تر دي بله بد مرغي به چېرې نه وي

پر څړمني چې د مني کښم ويرنې

بې ګلونو پسرلي دي چې تېرېږي

نه ګلبوټي ، نه ګلولې، نه ګلونې

دا راوشوه څه کانه پر ګلبڼو مې

پکې ټوکي چې د ګلو پر ځای غنې

چې يو وخت مې ببدیا باج له باغه اخيست

اوس په باغ کې مې ولاړې انځر غنې

نارنجباغ د سباوون مې زرغون نه شو

يم نهيل د خپلو وينو له کرنې

ګلکڅو نه مې باروتو تور ايره کړل

ګل مېرې مې جلوهلې او تبجنې

پاڼرېژو ژبې را پرې کړې د سپېدارو

ويلوب سوځي مې د سرپو سبرونې

څنگه نه اوسي وښکي مې سره په وینو
چې خورم وینې شپه او ورځ د خپلې ینې
ژوند ببړۍ مې ده راښکیل په توپانو کې
نه ماڼو شته ، نه امېد یې د ژغورنې
غېچ د خپلو وینو اخلم له خپل ځانه
راته غوره ځانوژنګ له پور وژنې
هسې زار نهیل به ما غوندې څوک نه وي
چې کړم هیله له پردو د ځانژغورنې
درنو ورځو یاران مې و وبې شمېره
نه شته څوک پر تورو شپو مې د پو ښتنې
پر او ښجه د ښکلا مې نا تار ګډ دی
لاس اخیستی مې زوروان له ګرو پرنې
نریوان، ویهاراوې هېرې شوې
دا یوا کړي له یزدان سرغړونې
د شر خدای ځاځ پرښتې راګومارلې
کار یې نشته، بې اور وینو او وژنې

شر غوبل ته يې ورکړې ديني بڼه

ټول بېزار يې د وحشت له اچونې

راستولی يې اشرار د شر لپاره

راځار کړي يې ژوند ژواک له گروه پلټنې

تر و بانې تور واسونو رالښلي

په پوچ خيال پر سر د خول دا ښووني

را واکمن يې هسې تور طالب اخوان کړ

چې بادار ته هم نور نه دي د سهنې

هندو بار نه يې سوچه اسلام راوړی

پر ناپوهو پر گنو کړي زبادونې

نور څه نه کړي جگړه مار بد کار جاهله

بې د جنگ ، جنايت ، جهل له خپرونې

کړه ټوک ټوک يې د اسلام په توره دومره

چې اميد يې نشته نور د رغېدنې

ورسره واړه يو لاس يې وو ورانۍ ته

اوس يې نه کړي اند ښنه د رغاونې

کړه يې ښکېل په خپلمنځي جګړو کې هسې
جې يې نشته بل څه کار بې ورور وژنې
په سرو شنو را و دروهه ساده ولس يې
اوس بې برخې يې يو مخ له پېرزوينې
وږی تږی او رنځور يې پر ځای پرېښووه
په ارمان د يوې وچې پياڅې ، نغنې
منځنی پېړۍ راوستې د لوېديځ يې
د ختيځ له بر بريت سره د ملنې
دژوند واک و انساني حقوق ترې اخلي
اسلامي حقوق تپي پرې له دروهنې
نور له سره رغوي پرې انداونه
د دوی کار د لاسو پښو ، سر پرېکونې
ما سک د ږيرو يې راکښلی پر مخو دی
دي پر تن يې د انسان هسې څرمنې
جنتي حوري غلمان ستايي هر چاته
خو ژوندی د کور پر ګور منډي ښځمنې

راته دین یې هسې توره بلا کړی
چې را ربږي غبرګې پښې د پر مختلنې
ډنډورې د بل خیالي جهان وهي دوی
نور کړي نورو کیهانو ته الوتنې
لا د ځمکې پر ګرد ښت نه لري ګروهه
مخکښان بولي ځانونه د پوهنې
د تخنیک پوهې په دې هښنده پېر کې
پېژني تشې کږنې انګېرنې
د شپږمې پېړۍ زده کړې ورته غوره
تر دې نن سبا ښوونې او روزنې
استادانو یې ولس ټول مرخپان کړ
اوس یو مخ دا شاګردان ورتړي زنې
راښکېللی یې د ګروهې هسې تور کې
چې یې نه شته ترې چاره د راوتنې
چې د ځمکې بنده ګان یې ترې ځوربږي
څه کړي تمه د بادار د لوربینې!

دي پخپله لاس بوتان د خدای د ښمنو

او وهي باتې د خدای د استازګرنې

ټول کافر دي خو یو دوی مسلمانان دي ( ! )

ناوزګار له بل غندنې، ځانستاینې

د مریې مریی به چا لره څه ورکړي

دوی جوګه کله بل چاته د ښښنې

پرلا رسم لکه چنګابښ نه ځي پخپله

ترې به وشي څه امید د سمونې

دا لنډ اندي بنسټپال لري دا هڅه

بېخ بنسټ را وکاږي چې د ټولنې

نشتوي یې ټول مانیز توکیز شتوالی

تل په هاند یې د وکر د مسخونې

ځنې بلوسي خپل زاړه ملي ویاړونه

پرې د دین په نوم تپي پر دې ویاړنې

کړي پر ځای د خپل تاریخ، فرهنګ مېړانې

د سامیانو پر تاریخ فرهنګ بناځنې

هيڅ سوچ نه کا ، چې تاريخ يې نورمل نه دی

نه يې دي زاړه چلونه د چلنې

زوړ به زازو پربږدي نوي ته خپل ځای نور

دا دی جبر د زمان د وخت غوښتنې

څوارلس سوه کاله بيا راوستای نه شي

هغه پېر نه دي نور چاته د منني

دا جګړې به يې ژر پاتې شي له مرګه

ورسره پټليز زړې وسلې زنګنې

ژر به پوه يې په تګۍ شي دا وګړي

نه کړي نور به يې دوکه د جنت ژمنې

ورويجاړ به کړي طلسم د پېړيو

هر يو دام يې کړي ور پرې د درغلنې

ځنې نه شي اخيستای د مېنې مينه

لرې نه لو بږي منه له خپلې ونې

لايې خونه د پلرو کعبه د هيلو

ورسره يې دي لا تېنګې د زړه ستنې

دا له ذهنه د نړۍ وتی ولس مې
پېړۍ وروسته بیا یاد ښاد شي یو ورځ ګنې
لا څو څاڅکي یې د وینې شته رګو کې
ورستي برید ته د بري د رسیدنې
که په ستوني کې فریاد یې غرېو نیولی
لا یې پاتې دي وازره د الوتنې
پولاد وزمه به راووځي مخسوري
له داهسې سرې بټۍ د ازموینې
بیا به زباد بلوسلي برم کړي ټول جهان ته
ناست به نه وي تر قیامته لا ترزنې
چي یو وار وي کوم لښتي کې اوبه تیرې
پکې شته یې بیا کیدون د بهیدنې
چې کړي ورکه شاتګواله له هېواده
هغه ننګ به یې بیا وکړي غځونې
د مهال پر تورو وربځو اور کړي پورې
بیا په پار د ژوند د لمر د ځلېدنې

شي پانړېږو واټنو ته د پای ټکی

ورېد زمولو پسرلو د تاندونې

چې تر بنې د سباوون يې غځېدلې

ګلورينې کړي هغه لارې اغزنې

بيا د هسک د خدای رښتينې خوشالۍ ته

شي پر ځمکه يې ځاينا ستې د نمانځنې

د خپل ژوند وژواک برخليک بېرته را خپل کړي

د ځانپلورو بلو ساکګرو له بلوسنې

چې بيا سيال شي له سيالانو سره زياره،

ده اړتيا بيا د افغان د سربښندنې!

اکسفورډ، ۲۰-۳-۹۸

**د بد خشا ن لالونه**

نور دې د ښایست ګلونـــــه نــــه ستـــایم

ستا د سپین مخ شنه خالونـــــه نـــه ستایم

سترګو دې زما هســـــــتې لمــــــبه کړله

دا نشه نسکور جامونـــــه نـــــــه ستایم

ډېر دې کړم راښکېل پــــه اوږدو زلفو کې

نور دې دغه تور دامونـــه نـــه ســـــتا یم

ورک شو درنه ځان په ډېر ستایـــــنګ زما

بس ستا کرشمې نازونه نه ســــــتایـــــم

مینه کې چل ول ریا ځــــــایـــــېږي نه

ستا دا د ریـــــــــا چمونـــــه نه ستایم

شوې چې پېغلې شونډې یې سور اور راته

نور د بدخشان لالونـــــه نـــــه ستایم

نه شوم چې پخپله د خپل وخـــــت جوګه

تش د ورنېکو يادونـــــه نـــه ستايم

ښکای نه شم د جبر قصــــــيدې د چــا
زه د چا واکمن برمــــــونـــو نه ستايم

يم د اهورا د سپېڅـــلتيــــا ګروهن
زه د اهريمن مکرونــــــــه نه ستايم

تېر رانه وختونه مې چې ځارشـــو ترې
دا اوسني تور وخـــتونـــه نه ستايم

ما کړې له ميـــــوز ســـره داژمنه ده
نور د تورو زلفو ولونـــه نـــه ستايم !

اکسفورد ۲۸.۳. ۹۸

**د ګلو اوښکې**

درته مې تمې په تلو تــــلو کې اوښکې

د څېرو ګروو په ريـــــښو کې اوښکې

دا پکې لامبي ستا د خيــــال ښاپيرۍ

ځکه مې ډنډ دي په لېمو کــې اوښکې

ستا د راتګ د هــــر کــــلي په هيله

لامې دي ننښتې په بــــڼو کې اوښکې

چې يې پر مخ راجـــوړې کـړې لارې

تا ته پېيم په اميـــلو کـــــې اوښکې

لمر ويلوي واورې د غــــرونــو پر سر

ځي يې رودونه په خــــوړو کې اوښکې

پر ژاړه سردي تــــــــول وګړي دلته

ته وا بهېږي په ويــــالــــو کې اوښکې

د پرخې څاڅکي يې مــــه بــــوله هسې

گلوتوی کړي په اغـــــزو کې اوښکې

له بې ارزۍ ورته تش گـــــوري هم نه
لکه یاقوت یې لونم پـــښو کې اوښکې

زیات یې شـــــي قهــر د کباب په ژړا
ورسوځي اورلا غـر غنډو کې اوښکې

دو مـــره اسمـــــان راسره وژړل چې
نه یـې ټینگېږي په وښکو کې اوښکې

گونـدې رڼوب شي د سپېدو سهار ته،
چې تـو یوم په تورو شپو کې اوښکې !

۹۸,۳,۳۱

# مروره خندا

ستا د ښایست بهارستان نه خاندي
زما زموللی ګلستان نه خاندي

په وچکالۍ کې ستا دلور وپېرزو
شنیلي نه خاندي، ګلان نه خاندي

سمه او غر له پسرلي مرور...
ورشو، رغځی، د ښت وبیابان نه خاندي

ژړا خندا دي یو د بل زېږنده
چې ورېځ نه ژاړي باغ بوستان نه خاندي

لکه غاټول پسرلي پر ښبنوم پر داګ
که ګل پر هر مې پر خزان نه خاندي

لو ګي مې خېژي د ښــــو نـــو لـــــــه وادي

زما لمرين نارنجيستان نــــه خـــــانـــــدي

دي بې سهاره ترورمـــــې شپــــــې واکمنې

لمر، سپورمۍ، ستوري پر اسمان نه خاندي

خوښۍ ښادۍ مې له بـــــــورجـــل لښلي

راته اسرې، هيلې، ارمان نه خـــــانـــــدي

خندا په روغ زړه شي، په ژوبـــــــل نه شي

پر زړه ويشتلي مينان نــــه خــــــانــــدي

ما لېونی د مينې مــــه بــــــولــــــئ ګرم

لېوني چا وېل چې پر ځـــــان نــــه خاندي

چــــــې په لوی لاس پر ځان جهان خندوم،

پـــــــــر ما دې ولې دا جهان نه خاندي؟

اکسفورد ۹۸،۴،۲

## دسرو هیلو جوپې

زما د سرو گلو باغـــــچې تالاشوې

د شنو خوبونو سرې غونچې تالاشوې

د پســـــر لي پـــــر گلورشوو زما

دګليونو نو گلوږمې تــــــا لاشوې

د سباوون د گلـــکڅـــونـــو پرلور

دارمانونو بدرگې تـــــالاشـــوې

دمنگنيو پانړېژو پـــه لاس مـــې

تلپسرليزې بنجرې تـــــالاشـــوې

څه مو سمونه گلورين شـــو رازمـــول

څه تلښېرازې شنې شښې تالاشـــوې

رالېږديدې مې چې د لمـــر له ښـــاره

هاپلوشينې قـــافلـــې تالاشـــوې

د رنګ وبوی ټول بهیرونه مې لــوټ

د سومابوټو کروندې تــــالا شـــوې

غدی، راپرېوته پر کور د ښـــــایست

زما د مینې ورځې شپې تـــــالاشوې

لرغوني ځلي مې د برم و پــــــــرتم

د ننګ و پت دیرې او جرې تـالاشوې

ها دنیکو د نیک اندی، ایـــــین مې

ویاړلې ګروهې اسطورې تـالاشوې

له پرتمینو مهـــالـــــونــــو ځنې

د تلیادونو خزانې تــــــــا لاشوې

ها پېژند نښې، پیلامې د هســتی،

ټولې راپاتې ښادنامې تـــا لاشوې

چـــــــې د خزان تر واټنو اوښتې،

زماد سـرو هیلو جوپې تالاشوې !

اکسفورد ۹۸،۴،۴

## د پاکې مینې کور

دریغه چې دا ستا د پېکي ګل نه شوم

ستا د ګل ښایست د بڼ بلبل نه شوم

تا خو مې پر سر د زلفو سیوری کړ

زه خو ستا پر سر ښاخ د سنبل نه شوم

پښو کې د ناز شین دې سپینلي غوندې

دود دې نظر مات ته د کاکل نه شوم

جوړ دې زه وېده لکه د زلفو مار

ستا د چندړ څانګې پر څنګل نه شوم

یم خو لا اغزی د دښنو سترګو کې

سکینده که د خپل زخمي ګوګل نه شوم

و مې څښلې ډېرې د خپل زړه وینې

ورسېدم نو لس ته، خو شل نه شوم

بیا هم د مهال ناخوالې نه ژاړم

دا چې لاس پر سر ستا له درشل نه شوم

لاس مې د خپلوۍ اوږد پردي ته کړ

شوم له خپل پردی، د پردي خپل نه شوم

بل مې لکه شمه کړ ځان نورو ته

هسې بلهاري شوم، خو د بل نه شوم

بيا مې هم دی زياد د پښتنې مينې

دا چې کله مل د تورک مغول نه شوم

ما لکه غوټۍ ځواني له تا ځار کړه

څه که خزان وزمولل، ګل نه شوم

چاته مې سر ټيټ لکه چنار نه کړ

بل مې پر زړه اور، خو بې منګول نه شوم

نور دې څه پيغور نه شو پر ما پاتې

سرمې چې غوټ پرې شو، نيم بسمل نه شوم

وو چې زما ستا د پاکې مينې کور،

مېشت له تا سره بيا پر کابل نه شوم !

اکسفورد ۹۸،۴،۲۰

د اشنا له کوڅې ولاړم، پر ناشنا باندې د بېـــــره شوم

زه خو تلم د چا پرلوري، دا پر چــــا بـــاندې دبېره شوم

له نا دودو د رقیب لکه، غاټـــــول پـــــــر زړه داغلی

لاس پر سر له خپل گلبڼه، پــــــر بېد یا باندې دبېره شوم

زما مینه خوله آره، وه لـــــه شـــــور و ځـــــوږه ډکه

څه د غرونو او ځنگلونو، پر چوپتیا باندې د بېــره شوم

د وفا کچکول پر غاړه، درست جهان مې له پېښو وا بست

دا پر څه بې غور ولوره، بې پروا بانـــــــدې دبېره شوم

له تېر د مرگ و درده، زما څـــــــــه لـــــــه ارام ژونده

د همدردو په لټون پر مسیحا بــــــانــــــدې دبېره شوم

په دې ښار کې چې ونه موند، ما خوالگر د خپلې مینې

له پیغور د لېونتیا، سر پر سارا باندې د بېـــره شوم

د وختو اهریمنانو چې سور اور کړه پـــــر مـــا ځمکه

پر سپېڅلي لمر مزدک، داهورا باندې د بېـــره شوم

اکسفورد ۹۸،۴،۲۱

# د نشت اباد پر لوري

شهې مې هسې کړي پر مینه لوبې
لکه ول ول څڼې چې باد ته سپاري

دزرو زور خدایان څه لوبې کوي
ټولې نادودې ما ناښاد ته سپاري

یو ځل له ما چې د ځان واک وبلوسي
څه نو ، که بیا یې غله یا ساد ته سپاري

هسې یې زړه رابانـدې ډک دی، ته وا
فلسطیني حماس مو ساد ته سپاري

دا وران بر خلیک مې پر کوم لوري بیا یي
له یوه هیواد مې بل هېواد ته سپاري

چا مې را خیستې ده په ورکې پسې
خدایېږو یو مخ مې نشت اباد ته سپاري

لاخورا ازموي شیرینه مینه
کروړ، ببستون چې ما فرهاد ته سپاري

هستي نیستي مې د ښکلا ښکېلا کګر

څه بنیاد کړه بې بنیاد تــــــه سپاري

دا درغلي تش په نامه مــــا لیـــاران

زما د باغ چونې صیاد تــــــه سپاري

پر ژوند جګړه چې څـوک ایمـان نه لري

ښه او بد وبله د خـدای داد ته ســپاري

داد و بېداد له بــېداد ګـــرو دوخت !

چې ما د داد پرځـای بېداد ته سپـاري

څنګه و نه ژاړم نـــــیاوتون د مـهال

چې لاس نیولی مې جـلاد ته سپــاري

زه به یې مړ یم له ارمــــانــه که بـیا

مړی مې پار و پامیزاد تــه ســپاري

داڅه ناخوالې دې نا خواله زیـــاره،

بې نیاو تاریخ نن سبا یاد ته سپاري !

اکسفورډ ۹۸.۵.۸

**دسپېد ه داغ سپېدار**

شوه مې خزان د شنو خوبـــونو ورشو

د تلسمسورو سرو گــــــلونــو ورشو

اور مې شو پورې د ښکلا پر باغچو

راسوي د مینې د یــــادونــو ورشو

د نهیلۍ سپېره بېد یا شــــــوه راته

د نا سپړلو ارمـــانــــونـــو ورشو

پسرلني رنگونـــــه نــه راوړي نور

زما په سرو بلهارو ویـــــــنو ورشو

له سرو لمبو د سرو رېـــد یـــــو تشه

ها د زرتشت د اور تـــونـــونو ورشو

ده غځېدلې مې د مــــــرگ تر پولې

د تورو شپو د واټــــــنونـــو ورشو

لکه تور شپول راخــرخـــېـــدلې رانه

د تور وحشت د تـــوپانـــونـو ورشو

یو تور زندان شـــو د اور وینو شېبې
د سپین سبا د ګلیو نو نـــــو ورشو

را تاندوي بیا د اور ویـــــنو شېبې
د برم د هسک د سرو څنډو نـو ورشو

را لړي توري باروتي لــــــــوخړې
د ستورو سترګو سترګلینونو ورشو

ګوندې که بیا مې غځـــونې وکړي،
د سپېده داغ د سپېدارونو ورشو !

اکسفورد، ۹۸.۵.۱۲

**سکروټیني ږلی**

زما د شپوله تور ځنګله سپين سهارونه ترهي
له سپېداړانو د سپېدو مې رڼوبونه ترهي
پر شنو ورشوو را وربېږي سکروټيني رېلۍ
له جلو هلو بيا بانو مې بارانو نه ترهي
د پاڼرېژو سيلۍ مې رژي د چمن ناوکۍ
له خزانز مولو ګلبڼو مې بهارونه ترهي
د ژغور بېړۍ مې پر اوړو د توپانونو لېږدي
له ګلکڅو د ارمانو مې ګليونونه ترهي
د پرهر ژلو انګور تاکو له سرامنو وينو
د تنده غرو ميکد نسکور جامونه ترهي
پر ژړا سر دومره د خپلو تاند لبانو په وير
چې مې د اوښکو له نېزونو دريابونه ترهي
کړې اسوېلو رڼې هېندارې د باور راتتې
له ستورو سترګو مې د هسک راڼه خوبونه ترهي
چې مې بلهارو وينو نه کړ نن سبا مخسورى
دا يې له سرو د مرجانو نو بهيرونه ترهي

څه بوږنوړو واټنو مې د لمر لار نیولې

د پلوشو له قافلو مې تکلونه ترهې

که دالوت وازره لمبو د پرو مېتوس راوسول

له ستړو پلونو مې د ځغل ارت ډګرونه ترهې

د ښکلا ښارمې د اور وینو په کفن کې نغښتی،

نن مې د مینې   له غزل که ګلوییونه  ترهي !

**۹۸-۵-۲۱**

په لړ بدلون د تاند لباند ننګیال

د وروستي غزل پر لیکه:

## خزان نار نجیستان

اجل مې لاسنیولی، نن له ځان سره بیا یي

د ژوند نارنجیستان مې، له خزانه سره بیا یي

هر څوک که مې ورکړې، مرګ ته ماتې څو څو واره

سر کښې روح و روان مې، له عصیانه سره بیا یي

اخېستی غر څپود ، مر ګڅپاڼو څپانونو

توپان مرغه په شان مې، له توپانه سره بیا یي

ما ویل چې د هسک ستوري، د خپل برم د خول غمي کړم

مرګی مې اوس له هسې ستر ارمانه سره بیا یي

د ښاخ په کرونده کې مې، زرغا د سرکو سترګو

د سرو سرامنو اوښکو، له څپانه سره بیا یي

دمني د پانړېږد، ګورځنګلونو توراسان مې

سپرلی، ګل و بلبل له، ګلیستانه سره بیایي

تور مخو د راکولاوو، د زړه ویني کړې را وچې

ژوند ژواک مې ټول له سراو له سامانه سره بیایي

برزخ خو مې راپرېولل، ټول ناکړي ګناهونه

دوزخ ته پرښتې مې، له ایمانه سره بیا یي !

کینلې لار وهونکو راته لار کې تورې ګورندې

یوسف مې د اور وینو له کاروانه سره بیایي

کعبه مې د زرتشت که، د خلیل تر کعبې ځار کړه

آشه مې افرو دیتا، سپین تومانه سره بیا یي

دننګ و نام اوبجه رالتاړه ترویانو کړه

پرون و نن سبا مې، نوم ننګ په سره بیا یي

کوم تور وحشي لاسونه، له کوم لور راغځېدلي

هست نېست مې له افغان، افغانستان سره بیا یي

دا څه کاني راپېښې، دې بدو ردې زمانې کړې،

ننګیال مې له حمزه او غني خانه سره بیا یي !

اکسفورډ، ۱۰-۶-۹۸

## په وینو ولړلي لار

تر څو به پرمخ نغاړو هر یو خپله خپله لاره

بېلې، بېلا بېله یو له بله خپله لاره

شو سر د تباهۍ پرګړنګونو باندې څکه

چې نه مو کړه تو پیر له پردي خپله، خپله لاره

که سوې د برې برم د نیلي وخت راښکلې نه کړې

د اونه کړه هېڅکله مو را خپله خپله لاره

په ځان پسې مو رنګ کړه تر شا پلونه په لوی لاس تول

کړه پرې مو هم د تېښتې په خپله خپله لاره

بهیر مو که د ستورو شو په نیمه لار کې پاتې

سهي مو سمه نه کړه تر منزله خپله لاره

پر ځای به د کعبې ځکه رسېږو تور کستان ته

په لوی لاس مو چې ورځنې کړوله خپله لاره

جوپې مود برخلیک پر رڼا ورځ تالا والا شوې

چې ملو مو غلو ته پرېښوه، تر کابله خپله لاره

څه تورو پانړېژو د ګلکځو لارې نیولې

پر لور د ګلیون ورکه له بلبله خپله لاره

خوشال هله اتل د قلم توری د افغان شو

چې کړله یې رابېله له مغله خپله لاره

هرو مرو به اوښته د مرګ و ژوند تر پولې

د اورو ینو په زور مو چې نغښتله خپله لاره

هم هاغو مره پېړۍ بېرته پرشا باندې ستانه شو

چې هر څو مره مو مخ ته لنډو له خپله لاره

رڼوب د سباوون مو رڼايي د سترگو نه شوه،

هر څوک مو په اوښکو وينو ولله خپله لاره !

اکسفورډ، ۲۲-۶- ۹۸

## د جم جامونه

پربېړده، پر مخ مې وي بهاندې او ښکې

چې وځښي تنده مې ژړاندې اوښکې

د هسک له سترگو څڅېدلي ستوري

بويه زما دغه برېښناندې اوښکې

برند دې کتاى برندو لېمو ته نه شم

څله مې څارې سترگو لاندې اوښکې

سترگې زما دي غبرگ جامونه د جم

دزړه هېنداره مې ځلاندې اوښکې

دي په لټون د چا د ورکو پلونو

زما لاروركې، لا لهاندې اوښکې

ځوانیمرګ یاد د چا پر زړه راووري

بولي په ویر کې مې بیا ساندې اوښکې

دغه د کوم ناورین د اور لوخړو

بېرته له سره کړې را تاندې اوښکې

چې زه هم ډوبې کړم بېړۍ د ښنو

پرې، سمندر مې شي ځپاندې اوښکې

څه مې پوښتې له مړو سلګو اسوېلو،

دي په چوپتیا کې مې ویاندې اوښکې!

اکسفورډ، ۲-۷-۹۸

د اروا ښاد تاند لباند امان الله ساهو

په ویر کې:

## دلمر پر لور

بیا څه غچ نیلي اسمان راځنې اخلي

چې د لمر پر لور ارمان راځنې اخلي

څه به ژاړم تاند لباند د سوي بڼ مې

شنې شېبې سپرلي، خزان راځنې اخلي

چې اخېستې يې زما له وينو رنګ دی

د ښکلاوو پېغليستان راځنې اخلي

لارويان د تور شپو د ځنګلونو

د سهار نارنجيستان راځنې اخلي

رارژي مې د تاريخ زرينې پاڼې

نن پرون و نوم نښان راځنې اخلي

د پېرېيو تور د يوان را بلو سېدلي

تاج و تخت د سليمان راځنې اخلي

وامپيري او تاغوتې تورې اروا وې

برم پرتم، باور ايمان راځنې اخلي

د مهال پر غر ځپو مې بېړۍ لښې

هم نېپتون، هم نوح، توپان راځنې اخلي

فرهادي مينې مې مېنه راسپېره کړه

بېستون چې خسروان راځنې اخلي

دا پر څه رنګ د رملګر باندې مې سر دی

درد راښندي او درمان راځنې اخلي

اهریمن د خپل بایللي جنګ په جرم

اور بتې د سپین تومان راځنې اخلي

د هسک خدای ته بیا پلپوټ رسول بویه

ساه د ځمکې دا خدایان راځنې اخلي

څنګه نه اوسي نارام د زړه هېواد مې،

په ننګیال پسې امان راځنې اخلي !

اکسفورډ ، ۹۸.۷.۲۸

## زنګالي سترګې

نه مین تش مخ د خپل یار ښکلوي

د یار په پار پېښې د ربیار ښکلوي

چې په ورېمو یې د راتلو ښکللې

مین ارمان مې هغه لار ښکلوي

مرور خیال یې په مالګینو شونډو

زما دغوڅ زړګي پر هار ښکلوي

زه خو پر ځمکه بې برخلیکه ګرځم

تشیال بېړۍ که اسمان لار ښکلوي

دا دزرتشت د اور لمبې غلې شوې

که یې اورپېښتي اوس انګار ښکلوي

خزانزمولللې ناوکۍ د چمن

دراتلو پلونه د بهار ښکلوي

که پر مخیون مې ټکنی ښکاري هم

لا د آس سوې مې یار اغیار ښکلوي

زنګالي سترګې مې د شپې د ځنګله

د سپېده داغ راته سپېدار ښکلوي

د لمر د وړانګو الماسي شونډې مې

باغ د نارنجو د سهار ښکلوي

دا پېرزوینه یې پر مړینه څه کړم

چې بیا مې څلی د مزار ښکلوي

چې یې تلپاتې کړي رښتینه مینه،

زیار په دې آر رسی د دار ښکلوي !

اکسفورډ، ۲-۸-۹۸

له پښتو پوهاند مکنزي سره

د خوږو شېبو په یاد:

## د ستورو چم

پر تل ورګډ شوم، چې سم د ستورو

هله مې ولید، پرتم د ستورو

د لمر مزدک ته یې وبللم

لاربنود مې وراشه، او ورم د ستورو

د ښکلا سیمه، د ښاپېریو

پاک له دیوانو، ارم د ستورو

پرچورلیځ چورلي، ځمکه د ښاخ یې

پر هسک ځلېږي، پرچم د ستورو

دي بر خليکسازي، دبې برخليکو

جهان دی لاندې، تر برم د ستورو

اور دې شي پورې، پر تورو وريځو

را ولوېه يې، حرم د ستورو

سرې يې په وينو، د شفق سترګې

اسمان پر مرګ کړي، وير غم د ستورو

که هر څو راغلل، پرې تاړاکونه

بهير روان دی، بيا هم د ستورو

ورته لمر څرکی، نارنجباغ مسي

څاڅي له سترګو، که نم د ستورو

څومره چې دربلي، د شپو پر بمينځې

ورته شي هومره ډېر زغم د ستورو

ګوندې په برخه، مې دغه وياړ شي،

تابوت مې واخلي، له چم د ستورو !

ويلس، ۹-۸- ۹۸

## ژړه غوني سترګې

چې ستا تر پښو لاندې زرغونې نه دي
هسې مې سترګې ژړه غونې نه دي

خوا ره چې لګي اننګي دې پرما
دا خو منې دي، مړه غونې نه دي

که خوب مې وړي ستا د کوڅو پر پالنګ
پا سته ورېښم دي، څه وژغونې نه دي

دا دې پر سپین مخ تور وربل را خور دی
هسې تیارې او تېره غونې نه دي

سپېرو سیلیو را سپېرې کړې خونې
څېرې مو هسې سپېره غونې نه دي

چې سره تلو دنارنجباغ پر ګلیون
نورې هغه شېبې لرغونې نه دي

څه که د هسک پر ورشو څرې هسې
دا وچې غېلې څه لوغونې نه دي

چې څونې تمه ترې د مينې کېږي

دغه شين تاغې خو هغونې نه دي

چې نن د يو، سبا د بل پر لاس وي

يورپې چا وېل، لاسما غونې نه دي؟

ها غنمرنګې مې په تورو سترګو

په خوار ښايست کې هم بدغونې نه دي

ها له مالګينو مکېزونو سره

دومره له مينې، ربغونې نه دي

تا چې پر زړه باندې د زيار ايښي دي

هغه داغونه درغونې نه دي!

لندن۲۱-۸-۹۸

## دايمان په پښو کې

پسرلنۍ مې د خزان په پښو کې سا ورکوي

شنې سمېفونۍ مې د توپان په پښو کې ساورکوي

دا چا راپرې کړې د سپېدو د سپېدارانو ژبې

چې ناوکۍ مې د بوستان په پښو کې ساورکوي

دزړه د سوي بڼ غوټۍ مې شي را تاندې ځنګه

چې مې د اوښکو د باران په پښو کې سا ورکوي

څه پر تمین تاند و ښېراز زلمي یادونه زما

د چا د ناز د پېغلیستان په پښو کې ساورکوي

چې یې زما د لمر پر مړښه کړ خپل ځاناګاره

ستوري سپوږمۍ مې د اسمان په پښو کې سا ورکوي

بیا بړبوکۍ د اسوېلو د پاکې مینې زما

د لېونتوب د سره بیابان په پښو کې ساورکوي

د واټنونو د ځنګلونو په تروږمیو کې مې

نیمژواندې هیلې د ارمان په پښو کې ساورکوي

چې د ازمون له سرې بټۍ یې مخسور ونه وتم

ځکه مې زغم نور د زمان په پښو کې ساورکوي

د ګناهونو غرغنډو لمبو پر سر اخښستی

ماتې توبې مې د ایمان په پښو کې ساورکوي

دتاریخ زړه ته مې چې مراندې د هستۍ رسېدې

اوس د نېستۍ د ریګیستان په پښو کې ساورکوي

اهریمنانو وروژلي اورتونونه ګوندې

چې یې اورپښت اهورایان په پښو کې ساورکوي

ستا پر دې دروغو شنو خوبونو به سور اور ولګي

چې مې جهان ستا د جهان په پښو کې ساورکوي

د مین ژوند له ټولو ماتو، نهیلیو سره،

زیار کړې دا ښاخ چې د جانان په پښو کې ساورکوي!

اکسفورډ، ۲۲-۸-۹۸

## دبې برخلیکوپر کاله

بیا مې تېر هېر هسې پر زړه راووري

لکه بېواره چې وورې راووري

څه تندر ټکې د برخلیک له هسکه

د بې برخلیکو پر کاله راووري

ځو له باروتو او سربې ویلوب به

دا سرې سکروټې، تور سکاره راووري

د سپینو ورځو رڼو بونو پر ځای

د تورو د ربلو شپو نانځړه را ووري

تورې شېبې ترمنځنيو اخوا

د وحشت بوږن له ځنګله راووري

چې لمر مزدک ته يې په مراند و هسک شم

هغه وړانګه هېڅګله نه را ووري

له لېمو څاڅي مې سرې وينې د زړه

جوړ يې سروب پر ګرېوانه راووري

که يې پر نورو غليمان وروي

پر ماله دوست وهم د ښنه اووري

يوه خوا هم ترې ځان ژغورلای نه شم

له لرو و بر او سمې غره راووري

د مرګ په شپول کې مې راښکېل او بجه

پرې له ژوند پر ته نور هر څه راووري

د فرعونانو زهر ژلي غشي

د پرښتو په وينو سره راووري

سمندري غله مې ارام نه پرېږدي

بيا رګبارونه يې کاږه را وورې

په زړو ، نويو يې ټوټې ټوټې کړم

کله يې پخ کله تېره راوورې

ټولې بخولې او ناخوالې د وخت،

بس تش پر کور د پښتانه راوورې !

اکسفورډ ، ۱۳-۹-۹۸

## داسوېلو تر سيورې لاندې

ږدم دې سترګې د ښکالو تر سيورې لاندې

چې را شنې شي ستا د پښو تر سيورې لاندې

پرې چې شپه ورونوې مه تر سهاره

ستا د سترګو د ډيوو تر سيورې لاندې

لمر مزدک ته د ښکلا دې لارې نغاړم

ستا دمخ د سرو لمبو تر سيورې لاندې

رسېدلی د خپل برم تر لوړو ستونځو

ستا د مينې د وزرو تر سيورې لاندې

پر ببړده ما د بېلتانه غرمو وهلی

وا خلم ساه دې د ښو تر سیوري لاندې

ناوکۍ مې د چمن شوې ترمې ترمې

د زمو للو سرو باغچو تر سیوري لاندې

رڼا ورځ مې توره شپه د ښار پر سترګو

د هېندارو د خولو تر سیوري لاندې

د تیارو له ځنګله ما پناه راوړې

د سپېدارو د سپېدو تر سیوري لاندې

زر پېرلی یو مریی لکه یوسف شوم

د مهال د قافلو تر سیوري لاندې

ما له خپله لاسه کړي پر ژوند لوبې

د دې خپلو ولولو تر سیوري لاندې

پر څه غرونو ګړنګونو باندې سروم

د بېلارو لاروو تر سیوري لاندې

یو تالا والا برخلیک د پر ګنو یم...

د ویجاړو بور جلو تر سیوري لاندې

که غمي مې له خول پرېوتل خو بیا هم
دی جهان یې د وړانگو تر سیوري لاندې

مه شه تته بله شمه د غزل مې،
دوختو د اسوېلو تر سیوري لاندې !

اکسفورډ، ۲۸-۹-۹۸

## دشمې سروب

سپین له سترگو د سپېدو د سپېدار څاڅي
لکه نم چې له وورو د بهار څاڅي
پر وادي مې د ښونو پاڼرېژ راغلی
اورو وینې مې له سبر و چنار څاڅي
که رڼې پرخې راووري پر گلپاڼو
دا دشپې اوښکې پر مخ د سهار څاڅي
د ستو مانو واټونو نهیلۍ مې
لکه څړیکې د زړگي له پرهار څاڅي
څه ناتار مې د هستۍ مرۍ را مروړي

څه ناورین مې د یادونو پر ښار څاځي
لا یې نور هم ځاځ پر غز پر غر غندو شي

چې سرامنې دوریتو پر انګار څاځي
نمرو دي لمبې به هم په پای کې مړې شي

پرې ننوب چې د خلیل د ګلزار څاځي
شنې ګومبزې د چوپتیا مې تر سکېدلې

ګونګ زګېروي مې د فریاد له ابشار څاځي
ترې راوتوکي مخسوری سباوون به

چې سرې وینې مې په پښو کې د دار څاځي
که په تلو یې خوږ بویې د باغچو تللې

لا پرې عطر یې د خولو د رخسار څاځي
توپانو که د برم شمه د زیار مړه کړه،

خو لا هسې یې سروب پر مزار څاځي !

همبورګ، ۲۰-۱۰-۹۸

ازمون او ټول ځوان نوښتګر پښت ته !

## تلپاتې ترانې

که ستا د سباوون سپينې سپېدې کړي غځونې
زما خو د ماښام تورې تيارې کړي غځونې
د مينې له اغېز مې ستا د ځوانو غځونو...
په پېر کې د پيرۍ ځوانې اسرې کړي غځونې
پانړېژ که زما لاس له بڼوالۍ ورو ورو وکاږي
په بڼ کې خو لا ستا تاندې شببې کړي غځونې
توپان مرغه ته بويه، ژغور بېړۍ ته د بد مرغو
زما که وزر ماتې اند ښښنې کړي غځونې
زه ګورم چې د موزې د خدايګوټي له اسمان دې
په خيال کې نوې نوې صحيفې کړې غځونې
مخسور لکه پولاد به له ازمون بتۍ راوځې
تر څو دې چې سپيڅلې ولولې کړي غځونې
سرلارې به شې هله چې د وخت په شنه ګومبز کې

دا ستا د سوو څرېکو انګازې کړي غځونې

رڼوب د اندو واند دې له سروب د اوښکو وينو

وربښمين اوب کې دې هسې رنګيني کړي غځونې

د غبرګو ارمانو نو په ملتيا کې به دې زازو

نا پايه پرتميني اسطورې کړي غځونې

رښتيا به پيلا مه شې د ازادو غور ځنګونو

چې شعر کې دې ازاد وزن څپې کړي غځونې

باور دی، شې لاسبر، پر نا لاسبرو ستونځو نور هم

چې ستا د وينې مينې پلوشې کړي غځونې

د پاک ايمان د لمر له تلبهاندې سرچينې به

تر تله ستا تلپاتې ترانې کړي غځونې !

اکسفورډ، ۳-۱۱-۹۲

# جهنمي توري لمبې

د ېر بورېنوړي واټنونه مې تر شا پرې ايښي

ستړي ستوړې منزلونه مې تر شا پرې ايښي

چې را پنځلي د مهال اهريمني اروا وو

د اور و وينو ناورينونه مې تر شا پرې ايښي

نه تش هېنداري مې د زړه، په اسو پلیو تتې

د اوښکو وينو توپانونه مې تر شا پرې ايښي

ما خو خو واره دار رسۍ شلولي

د ېر وژنځي مړيستونونه مې ترشا پرې ايښي

چې راټوكلي مې بلهارو بېگناهو مينو

ها وينې وينې گلكخونه مې تر شا پرې ايښي

جوړ غلغلې ته اسطوره مې وران ويجاړ ښارونه

كنډو كپر كلي كورونه مې ترشا پرې ايښي

د ځلبلاندو ځلوبونو په منگولو كې ښكېل

وچ تند غري بيابانونه مې تر شا پرې ايښي

د شنو زرغونو پسرليو د زرغا لپاره

نا غوړېدلي شنه خوبونه مې تر شا پرې اېښي

چې گلباغچو ته د ښايست يې رنگيني ښښله

هغه رنگ رنگ گل پرهرونه مې تر شا پرې اېښي

پکې چې ساه د رڼوبيو د سپېدو چلېده

څانگ و سرغوڅي سپېدارونه مې تر شا پرې اېښي

تر بري بريد يې لنډولې چې وربښمينې لارې

د مرجانونو بهيرونه مې ترشا پرې اېښي

د سبا ښار له نارنجباغه را الوتى مرغه

د سليمان د برم تختونه مې ترشا پرې اېښي

نېستي مې ليک د سرو پولادو د ويلوب پر سينه

سرپو سکڼلي گوگلونه مې تر شا پرې اېښي

چې((لن تراني ) ) انگازو يې فرعونان لړزول

هغه فرياد فرياد طور غرونه مې تر شا پرې اېښي

زه گناهگار بياهم جوگه د جنت شوى نه يم

که سره او تور غبرگ دوزخونه مې تر شا پرې اېښي

د جنګ و جهل و جنایت جهنمي لمبو کې،

تور سکاره شوي برخلیکونه مې ترشا پرې ایښي !

اکسفورډ ، ۲۰-۱۲-۹۸

## د سپوږمۍ د څپو سیوری

که دا ستا پر سورکو شونډو ، د پېزوان سیوری پرېوتی

خو پرما ستا د وربل، د شبستان سیوری پرېوتی

پر تبجنه سپېره دښته،د ځانګغوځ نیمه خوا زړه مې

ستا د یاد د تلسمسور، نارنجیستان سیوری پرېوتی

د لمر تندره یې مه بوله، پر لمر ناز پلوري سپوږمۍ خپل

دا له څپو یې د وړانګو ، پرجهان سیوری پرېوتی

دا ځلا مې سپېدې لوني، د برخلیک پر توره شپه بیا

چې پرې هسې لارې لارې، نیمروښان سیوری پرېوتی

خوري به ماتې اهریمن د ، ژوند جګړې په سره ډګر کې

پر لښکر د اهورا د ، سپین تومان سیوری پرېوتی

که اوږده تور واټونه،شو رالنډ تر بري برید ه

دا زما پرې د سپېځلي، پاک ارمان سیوری پرېوتی

ترمې ترمې زمول چمن به، مې راتاند شي بيا له سره

څه که اوس پر پسرلي مې، د خزان سيوری پرېوتی

که رېښې رېښې گرېوان مې، په ياقوتو جړاو ښکاري

پرې زما د سورکو اوښکو ، د باران سيوری پرېوتی

ځنگه نه وي چم کوڅې د ، سباښار تاندې ښېرازې

پرباموبې چې د تخت، د سليمان سيوری پرېوتی

جوړ مې سور سمندرگی له، يعقوبې سرامنو سترگو

چاويل پرې د يوسف، ښايست کاروان سيوری پرېوتی

گرمانه د تورو کړو د ، چا بدوردو مې پرغاړه

پر ما هسې د تورا ، شک و شوپيان سيوری پرېوتی

زه راوتی يم مخسوری، د ازمون له سرې بتهې نه

پر ناکړو گناهو مې، د ايمان سيوری پرېوتی

لاس پر سر مې پرښتې د ، مرگ د ساه د اخېستلو

د هستی پر بورجلو مې، د زوروان سيوری پرېوتی

د تاغوتي تورې اروا وې، راچاپېر له مزد کونو ،

نه چې بيا زماله سره،دیزدان سيوری پرېوتی !

۱۱-۸- ۹۹(لمرتندره، کسوف)

## ګلورینې وینې

د چنار لېچې تر څنګلو وینې
وهي يې داري له منګولو وینې
په زمهریر ژمني خوب کې وینې
زمول انګورتاک پرځای د ملو وینې
پسرلني ګلونه نه راټوکي
په کروندو کې د سرو ګلو وینې
ملیار یوه اوښکه هم توی پرې نه کړه
هسې توی ولاړې د بلبلو وینې

په زړه کې وچې شوې د مینې چینې

وینو ونه شو ولاړ، په وللو وینې

څلې د څانګو د بڼو پر څوکو

څه ګلورینې د ګلولو وینې !

راته کاسو کې د سرونو راکړې

لومړی پردو او هله خپلو وینې

ګوندې د لمر مزدک ته غاړې وځي

لکه رنګین ټال د ویرژلو وینې

دا توري لیکې به شي سرې د ټنډو

دا چې پرې څاڅي د کاکلو وینې

پرې، چې کړي پاڼې د تاریخ رنګینې،

دغه د زیار د سرو غزلو وینې !

الزاس(فرانسه)، ۱۳-۲-۲۰۰۰

(پای)